دافغانستان اسلامي جمهوريت

دعدلیې وزارت

# رسمي جريده

- پرزياتي ارزښت دماليې قـــانون
- دملکي خــدمتونودکارکوونکو دقـــانون دځينومـــادوتعـــديل
- پرعايداتوبانـــــدې دماليــــاتو دقـــانون دځينومـــادو تعـــديل
- دتقنيني سندونو دبرابرولو او له پړاوونوڅخــه دتېــرولودډول دمقـــررې دشلمې مـــادې تعديل

- قـــانون مـــاليه برارزش افزوده
- تعـــديل دربرخی ازمـــــواد قانون کارکنان خدمات مـــلکی
- تعـــــديل برخـــی ازمـــــواد قـــانون مـــاليات برعـــايدات
- تعـــديل مـــادۀ بيستم مقـــررۀ طـــرزتهيه وطی مـــراحل اسناد تقنينی

Ketabton.com

دخپرېدونېټه: د۱۳۹۵ هــ.ش کال د وري دمياشتې (۲۵)

پرله پسې نمبر:(۱۲۰۹)

تاريــخ نشــر: (۲۵) حمل سال ۱۳۹۵ هــ . ش

نمبر مسلسل: (۱۲۰۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| د امتیــاز خاوند: | دعدلیــې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمــم:محمد جان | ۰۷۸۳۳۰۶۹۸۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره: (۵۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۷۷)صفحه

مطبعه: بهیــــر

آدرس:وزارت عــدلیه، ریاست نشرات‌و ارتباطعــامه،سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان (شیرپور)کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرزياتي ارزښت دماليې د قانون د**
**خپرېدو په**
**هكله، د افغانستان د اسلامي**
**جمهوريت د رئيس**
**حكم**

**ګڼه: (۲۳۷۲)**

**نېټه: ۲۴/ ۱۱/ ۱۳۹۴**

**دعدليې محترم وزارت ته!**

**پر زياتي ارزښت د ماليې قانون چې د ۱۳۹۳ كال په لومړۍ نيمه كې د ملي شورى د مجلسينو په واسطه تصويب شوى او له مستردېدو وروسته، د اساسي قانون د (۹۴) مادې د (۲) فقرې د حكم مطابق، د ولسي جرګې د ۸/ ۱۱/ ۱۳۹۳ نېټې (۱۵۲) ګڼې مصوبې پربنسټ، تصويب شوى او نافذ دى، په رسمي جريده كې دې، خپور شي.**

**محمد اشرف غني**
**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

**حكم**
**رئيس جمهورى اسلامى**
**افغانستان در مورد نشر**
**قانون ماليه**
**برارزش افزوده**

**شماره: (۲۳۷۲)**

**تاريخ: ۱۳۹۴/۱۱/۲۴**

**به وزارت محترم عدليه!**

**قانون ماليه بر ارزش افزوده كه در نيمهٔ اول سال ۱۳۹۳ توسط مجلسين شوراى ملى تصويب گرديده و بعد از مسترد شدن، طبق حكم فقرهٔ (۲) مادهٔ (۹۴) قانون اساسى، به اساس مصوبهٔ شماره (۱۵۲) مؤرخ ۱۳۹۳/۱۱/۸ ولسى جرگه تصويب گرديده و نافذ است، در جريدهٔ رسمى نشر گردد.**

**محمد اشرف غنى**
**رئيس جمهورى اسلامى افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

ولسي جرگه

دټولو غړيو په دوه ثلثه رأيو سره،

پرزياتي ارزښت د ماليې د قانون

مصوبه

گڼه: (۱۵۲)

نېټه: ۸/ ۱۱/ ۱۳۹۳

ولسي جرگې د ۸/ ۱۱/ ۱۳۹۳ نېټې د چهارشنبې ورځې په خپله عمومي غونډه کې دافغانستان داساسي قانون د (۹۰) مادې د (۱) فقرې او (۹۴) مادې د حکم له مخې، په لاندې ترتيب سره پر ارزښت د اضافی ماليې دقانون په طرح کې لاندې تعديلونه يوځل بيا دټولو غړيو په دوه ثلثه رأيوسره تصويب کړل:

۱- پر ارزښت د اضافي ماليې د قانون د طرحې د (۴) مادې د (۲) فقرې د تعديل د طرحې په رابطه کې، د ملي شوري مصوبه، چې د توشېح لپاره جمهوري رياست ته استول شوې وه، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبه

قانون ماليه بر ارزش افزوده به

دوثلث آرای کل اعضاء

شماره: (۱۵۲)

تاريخ: ۱۳۹۳/۱۱/۸

ولسی جرگه در جلسهٔ عمومی روز چهارشنبه مؤرخ ۱۳۹۳/۱۱/۸ خويش به تأسی از حکم فقرهٔ (۱) مادهٔ (۹۰) ومادهٔ (۹۴) قانون اساسی افغانستان تعديلات ذيل در طرح قانون ماليه اضافی برارزش به ترتيب آتی مجدداً به دوثلث آرای کل اعضاء تصويب نمود:

۱- مصوبه شورای ملی در رابطه به تعديل فقرهٔ (۲) مادهٔ (۴) طرح قانون ماليه اضافی برارزش که جهت توشيح به رياست جمهوری فرستاده شده بود مورد موافقه و توشيح رئيس

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موافقې او توشېح ور ګرځېدلې نه ده، یوځل بیا د ټولو غړیو د رأیو په دوه ثلثه سره تصویب شوه.

۲- پر ارزښت د اضافي ماليې د قا نون د طرحې د (۵) مادې د (۲) فقرې (۵) جزء او د (۳۵) مادې (۱) فقره او د يادشوي قانون د نوم تعـــديل، چـــې د جمهور رئيس د مـــوافقې او توشـــېح ور ګرځېدلې ندي په عمومي غونډه کې مطرح او د ټولو غړو په دوه ثلثه رأيو د پورته يادو شوو تعديلونو په رابطه کې د افغانستان داسلامي جمهوريت د رئيس نظر او وړانديز سره د غونډې لخـــوا تأييد شول.

الحاج عبدالرووف ابراهيمي
د ولسي جرګې رئيس

جمهوری اسلامی افغانســـتان قـــرار نگرفته است، مجدداً با دوثلـــث آرای کل اعضاء به تصويب رسيد.

۲- جزء(۵) فقرهٔ (۲) مادهٔ (۵) وفقرهٔ (۱) مادهٔ (۳۵) طرح قـــانون ماليـــه اضافی برارزش و تعديل نـــام قـــانون مذکور که مورد موافقـــه و توشـــيح رئيس جمهوری قرار نگرفته است در مجلس عمـــومی مطـــرح وبادوثلـــث آرای کل اعضاء، نظـــر و پيشـــنهاد رئيس جمهوری اســـلامی افغانســـتان در رابطه به تعديلات فـــوق الـــذکر مـــــورد تائيـــــد جلســـــه قـــــرار گرفت.

الحاج عبدالرووف ابراهيمی
رئيس ولسی جرگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست مندرجات قانون مالیه بر ارزش افزوده

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۸ |
| مادۀ دوم: | اصطلا حات | ۸ |
| مادۀ سوم: | عرضۀ اجناس و خدمات | ۱۲ |


### فصل دوم

### وضع مالیه بر ارزش افزوده


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ چهارم: | وضع مالیه | ۱۴ |
| مادۀ پنجم: | معافیت های مالیاتی | ۱۵ |
| مادۀ ششم: | نورم صفر | ۱۷ |


### فصل سوم

### ثبت


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ هفتم: | ثبت الزامی | ۱۸ |
| مادۀ هشتم: | ثبت اختیاری | ۲۰ |
| مادۀ نهم: | تصدیق نامه و لغو ثبت | ۲۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل چهارم

## قواعد واردات و عرضۀ اجناس و خدمات

مادۀ دهم: تاریخ عرضه ........................................۲۲

مادۀ یازدهم: محل عرضه........................................ ۲۴

مادۀ دوازدهم: ارزش عرضه.........................................۲۶

مادۀ سیزدهم: تعیین ارزش به نرخ روز...............................۲۷

مادۀ چهاردهم: تصحیح مالیه بر ارزش افزوده بعد از فروش..........۲۸

مادۀ پانزدهم: واردات............................................. ۳۰

مادۀ شانزدهم: ارزش واردات.......................................۳۱

مادۀ هفدهم : مکلفیت پرداخت دریافت کننده از درک...............

عرضۀ خدمات خارجی...............................۳۲

## فصل پنجم

## مالیۀ برارزش افزوده قابل تأدیه

مادۀ هجدهم: طرز محاسبۀ مالیۀ قابل تأدیه..........................۳۳

مادۀ نزدهم: مالیۀ قابل مجرائی......................................۳۳

## فصل ششم

## اسناد مالیه برارزش افزوده

مادۀ بیستم: صورت حساب مالیه برارزش افزوده.................۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادۀ بیست ویکم: کریدت نوت ودبت نوت مالیه برارزش افزوده........۳۶
مادۀ بیست ودوم: نگهداری اسناد مالیه برارزش افزوده..................۳۹

## فصل هفتم

## اظهار نامۀ وپرداخت مالیه برارزش افزوده

مادۀ بیست وسوم: اظهارنامۀ مالیۀ برارزش افزوده........................۴۱
مادۀ بیست وچهارم: پرداخت مالیه برارزش افزوده..........................۴۱
مادۀ بیست وپنجم: بازپرداخت های مالیه برارزش افزوده...............۴۳

## فصل هشتم

## سنجش مالیه برارزش افزوده

مادۀ بیست وششم: سنجش مالیه..........................................۴۵
مادۀ بیست وهفتم: سنجش مالیه برارزش افزوده به دریافت کننده........۴۷

## فصل نهم

## احکام متفرقه

مادۀ بیست وهشتم: اخذ تضمین..........................................۴۹
مادۀ بیست ونهم: ضبط اجناس..........................................۴۹
مادۀ سی ام: نمایندگی ها بخش ها..........................................۵۰
مادۀ سی ویکم: صلاحیت های کارکنان گمرک......................۵۰
مادۀ سی ودوم: اسعار..........................................۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادهٔ سی وسوم: احکام انتقالی........................................۵۱
مادهٔ سی وچهارم: وضع مقرره وطرزالعمل ها...........................۵۴
مادهٔ سی وپنجم: تاریخ انفاذ...........................................۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر زياتي ارزښت دماليې قانون
## لومړی فصل
## عمومي حكمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د دوه څلويښتمې مادې د حكم له مخې، پر زياتي ارزښت د ماليې د راټولولو په منظور، وضع شوی دی.

**اصطلاحګانې**

**دوه يمه ماده:**

راتلونكې اصطلاحګانې پدې قانون كې لاندې مفاهيم افاده كوي:

۱- پر زياتي ارزښت ماليه: غير مستقيمه ماليه ده چې پر اجناسو او خدمتونو او د ماليې پر تابع وارداتو وضع كېږي.

۲- ماليه وركوونكی: هغه شخص دی چې ددې قانون د حكمونو مطابق ثبت يا په ثبت مكلف وي.

۳- د وركړې وړ ماليه: هغه ماليه ده

## قانون ماليه برارزش افزوده
## فصل اول
## احكام عمومى

**مبنى**

**مادهٔ اول:**

اين قانون به تأسى از حكم مادهٔ چهل و دوم قانون اساسى افغانستان، به منظور جمع آورى ماليه بر ارزش افزوده وضع گرديده است.

**اصطلاحات**

**مادهٔ دوم:**

اصطلاحات آتى در اين قانون مفاهيم ذيل را افاده مى نمايد:

۱- ماليه برارزش افزوده: ماليهٔ غيرمستقيم است كه بالاى عرضهٔ اجناس و خدمات وواردات تابع ماليه وضع مى گردد.

۲- ماليه دهنده: شخص است كه طبق احكام اين قانون ثبت يا مكلف به ثبت باشد.

۳- ماليهٔ قابل پرداخت: ماليهٔ است كه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ماليه وركوونكي(عرضه كوونكي)، په واسطه د اجناسو او خدمتونو د وړاندې كولو له دركه وضع كېږي.

۴- د مجرايي وړ ماليه: هغه ماليه ده چې ماليه وركوونكي (ترلاسه كوونكي)ته پر وارداتو او د اجناسو يا خدمتونو پر عرضې باندې وضع شوې ده او ددې قانون د حكمونو مطابق مجرايي وركول كېږي.

۵- د ماليې تابع واردات: د هغو اجناسو واردات دي چې ددې قانون د حكمونو مطابق د ماليې د وركړې تابع دي.

٦- د ماليې تابع عرضه: هغه عرضه ده چې د ماليې وركوونكي په واسطه په افغانستان كې د اقتصادي فعاليت په پيل يا پاى پورې د اړوندې عرضې په شمول برابرېږي.

۷- اجناس: منقول او غير منقول مالونه دي. پيسې پدې تعريف كې نه شاملېږي.

ازدرک عرضهٔ اجناس وخدمات توسط ماليه دهنده (عرضه كننده)، مطابق احكام اين قانون وضع می گردد.

۴- ماليهٔ قابل مجرائی: ماليهٔ است که بالای واردات وعرضهٔ اجناس يا خدمات به ماليه دهنده (دريافت كننده) وضع گرديده است و طبق احكام اين قانون مجرائی داده می شود.

۵- واردات تابع ماليه: واردات اجناس است كه طبق احكام اين قانون، تابع پرداخت ماليه می باشد.

٦-عرضهٔ تابع ماليه: عرضهٔ است كه توسط ماليه دهنده بشمول عرضهٔ مربوط به آغاز يا ختم فعاليت اقتصادی در افغانستان فراهم می گردد.

۷- اجناس: اموال منقول وغير منقول می باشد. پول شامل اين تعريف نمی گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- خدمتونه: فزيكي يا فكري يا لــه دواړو څخـــه مركـــب فعاليتونـــه دي.

۹- عرضه: د شخص په واسطه غير ته د اجناســو يـــا خـــدمتونو برابـــرول دي.

۱۰- اقتصـــادي فعاليـــت: انتفـــاعي مســـتقل (ســـوداګري، توليـــد او د سوداګريز ماهيت لرونكي نور فعاليتونه) او د جواز د صـــادرولو د مرجـــع د فعاليت په شمول غير انتفاعي فعاليـــت دی.د مزد يا معاش پـــه مقابـــل كـــې دحقيقي اشخاصوفعاليت پدې تعريـــف كې نه شاملېږي.

۱۱- فعال تشبث: هغه تشبث دی چې د معاملې په ترڅ كې فعال وي او پـــه راتلونكې كې د هغهٔ دفعاليـــت دوام د پيشبيني وړ وي.

۱۲- مالي اجاره: د قرارداد پربنسټ په اقساطو د وركړې پـــر وړانـــدې د شتمنۍ د انتفاع د حق انتـــقال دی د قرارداد په پای كې د ملكيت د انتقال په وعدې سره. او هر ډول اجاره چـــې د

۸- خدمات: فعاليت های فزيکی يـــا فکـــری يـــا مرکـــب ازهـــردو می باشد.

۹- عرضه: فراهم نمودن اجناس يـــا خدمات توسط شـــخص بـــرای غيـــر می باشد.

۱۰- فعاليـــت اقتصـــادی: فعاليـــت مستقل انتفـــاعی (تجـــارت، توليـــد و ساير فعاليت هـــای دارای ماهيـــت تجاری) و غير انتفاعی بشمول فعاليت مرجع صدور جواز می باشد. فعاليـــت اشخاص حقيقی درمقابـــل مـــزد يـــا معـــاش شـــامل ايـــن تعريـــف نمی گردد.

۱۱- تشبث فعال: تشبثی است کـــه حين معامله فعال بوده و ادامهٔ فعاليت آن در آينـــده قابـــل پـــيش بينـــی باشد.

۱۲- اجارهٔ مالی: انتقال حق انتفـــاع دارائی در مقابل پرداخت بـــه اســـاس قرارداد به اقساط با وعدهٔ انتـــقال ملکيت در اخير قرارداد می باشد و هر نوع اجارهٔ کـــه طبـــق معيـــار هـــای

(c) ketabton.com: The Digital Library



بين المللي معيارونو مطابق محاسبه شي، مالي اجاره ګڼل کېږي، د ځمکې اجاره پدې تعريف کې نه شاملېږي.

۱۳- مرتبط شخص: هغه شخص دی چې د مالیې ورکوونکي په دستور يا غوښتنه عمل وکړي او اقارب، ونډه وال (سهم لرونکی)، کارکوونکي يا هر بل شخص چې د هغهٔ د اقتصادي فعاليتونو پر نتيجو اغېزمن وي، پکې شامل دي.

۱۴- غير پولي تبادله: د جنس يا خدمت په جنس يا خدمت معاوضه ده.

۱۵- ثبت شوی شخص: هغه شخص دی چې اقتصادي فعاليت سرته رسوي او ددې قانون د حکمونو مطابق، ثبت شوی وي.

۱٦- صورت حساب: هغه سند دی چې د ورکړې مکلفيت څرګندوي.

۱۷- پيسې: پيسې او رايج مسکوکات، اسعار، چک، بانکي، پستي او پولي او د تضمين حواله پکې شامل دي.

۱۸- بيه (قيمت): د عرضې په تاريخ

بين المللی محاسبه، اجارهٔ مالی دانسته می شود.اجارهٔ زمين شامل اين تعريف نمی گردد.

۱۳- شخص مرتبط: شخص است که به دستور يا تقاضای ماليه دهنده عمل نمايد وشامل اقارب، سهمداران، کارکنان يا هر شخص ديگری بوده که بالای نتايج فعاليت های اقتصادی وی تأثير گذار باشد.

۱۴- تبادلهٔ غير پولی: معاوضهٔ جنس يا خدمت به جنس يا خدمت می باشد.

۱۵- شخص ثبت شده: شخص است که فعاليت اقتصادی راانجام داده و طبق احکام اين قانون، ثبت شده باشد.

۱٦- صورت حساب: سندی است که مکلفيت پرداخت رانشان می دهد.

۱۷- پول: شامل پول ومسکوکات رايج، اسعار، چک، حواله بانکی، پستی و پولی وتضمين می باشد.

۱۸- قيمت: مجموع مبلغ قابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د مجاز تخفیف او تنزیل له کسـر وروسته، د غیر پولي تبادلې په شمول د ورکړې وړ مبلغ مجمـوع ده، پـدې قانون کې درج شوې مالیه پدې تعریف کې شامله نده.

۱۹- شخصي استفاده: له اجناسـو او خدمتونو څخه استفاده ده چې له معمول اقتصادي فعالیت څخه بهـر صـورت مومي.

۲۰- معاف استفاده: ددې قانون پـه پنځمه ماده کې درج د معاف عرضې په منظور، د اجناسو یا خدمتونو اسـتفاده ده.

۲۱- پر زیاتي ارزښت د مالیې دوره: د مالي کال ربع یا میاشت ده.

**<u>د اجناسو او خدمتونو عرضه</u>**

**درېیمه ماده:**

(۱) لاندې موارد د اجناسو په عرضـه کې شامل دي:

۱- د خرڅلاو، تبادلې، پرېښودو لـه لارې یا په بل ډول د شي د مالکیت د حق انتقال.

پرداخت، به شمول تبادلهٔ غیر پـولی، بعد ازکسر تخفیف وتنزیل مجـازدر تاریخ عرضه، می باشد. مالیه منـدرج ایـن قـانون شـامل ایـن تعریـف نمی باشد.

۱۹- استفادهٔ شخصـی: اسـتفاده از اجناس و خدمات است که خـارج از فعالیت معمول اقتصـادی، صـورت می گیرد.

۲۰- استفادهٔ معاف: استفادهٔ اجناس یا خدمات به منظـور عرضـهٔ معـاف منـدرج مـادهٔ پـنجم ایـن قـانون می باشد.

۲۱- دورهٔ مالیه برارزش افزوده: ربع سال مالی یا ماه می باشد.

**<u>عرضهٔ اجناس و خدمات</u>**

**مادهٔ سوم:**

(۱) عرضهٔ اجنـاس شـامل مـوارد ذیل می باشد:

۱- انتقال حق مالکیت شی از طریـق فروش، تبادله، واگـذاری یـا طـور دیگر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د جنس په اجاره ورکول چې د مالي اجارې ماهيت ولري.

(۲) د خدمتونو جزئي عرضه چې د اجناسو د عرضې لپاره ضروري وي، د اجناسو د عرضې جزء ګڼل کېږي.

(۳) د شخصي يا معاف په مقاصدو د اجناسو استفاده په هغهٔ صورت کې د ماليې تابع ده چې ماليه ورکوونکی د نومورو اجناسو د مالکيت په ترلاسه کولو کې، ددې قانون د حکمونو مطابق، دمجرايي وړ ماليې مستحق وي.

(۴) د خدمتونو په عرضه کې لاندې موارد شامل دي:

۱- د حق ورکول، لېږداو پرېښودل ( د اجناسو او پيسو په استثني).

۲- د اسانتياوو يا منفعت برابرول.

۳- د جواز د صادرولو دمرجع په واسطه د جواز، اجازه ليک، تصديق ليک يا نورو سندونو صادرول.

۴- نور خدمتونه.

(۵) د اجناسو جزئي عرضه چې د خدمتونو د عرضې لپاره ضروري وي، د خدمتونو د عرضې جزء ګڼل کېږي.

۲- اجاره دادن جنس که ماهيت اجارهٔ مالی را داشته باشد.

(۲) عرضهٔ جزئی خدمات که برای عرضهٔ اجناس ضروری باشد، جزء عرضهٔ اجناس پنداشته می شود .

(۳) استفادهٔ اجناس به مقاصد شخصی يا معاف درصورتی تابع ماليه می باشد که ماليه دهنده در کسب مالکيت اجناس مذکور طبق احکام اين قانون، مستحق ماليهٔ قابل مجرائی باشد.

(۴) عرضهٔ خدمات شامل موارد ذيل می باشد:

۱- اعطاء،انتقال يا واگذاری حق (به استثنای عرضهٔ اجناس و پول).

۲- فراهم نمودن تسهيلات يا منفعت.

۳- صدور جواز، اجازه نامه، تصديق نامه يا ساير اسناد توسط مرجع صدور جواز.

۴- ساير خدمات.

(۵) عرضهٔ جزئی اجناس که برای عرضهٔ خدمات ضروری باشد، جزء عرضهٔ خدمات پنداشته می شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٦) د خدمتونو جزئي عرضه چې د اجناسو د وارداتو لپاره ضروري وي، د وارداتو جزء ګڼل کېږي.

## دوه یم فصل

## پر زیاتي ارزښت د مالیې وضع

**د مالیې وضع**

**څلورمه ماده:**

(۱) پر زياتي ارزښت ماليه، د مالیې ورکوونکي په واسطه د مالیې له تابع عرضې او د مالیې له تابع وارداتو څخه وضع کېږي.

(۲) پر زياتي ارزښت د مالیې نورم (۵) فيصده دی چې د عرضې پر ارزښت او د مالیې پر تابع وارداتو تطبيقېږي.

(۳) لاندې اشخاص د مالیې پر ورکړې مکلف دي:

۱- ماليه ورکوونکی د مالیې د تابع عرضې له درکه.

۲- واردوونکی د مالیې د تابع وارداتو له درکه.

(۴) پر زياتي ارزښت ماليه ددې مادې د (۳) فقرې د (۱) جزء د حکم مطابق،

(٦) عرضۀ جزئی خدمات که برای واردات اجناس ضروری باشد، جزء واردات پنداشته می شود.

## فصل دوم

## وضع مالیه بر ارزش افزوده

**وضع مالیه**

**مادۀ چهارم:**

(۱) مالیه برارزش افزوده، از عرضۀ تابع مالیه توسط مالیه دهنده و واردات تابع مالیه وضع می گردد.

(۲) نورم مالیه برارزش افزوده (۵) فیصد می باشد که بالای ارزش عرضه و واردات تابع مالیه تطبیق می گردد.

(۳) اشخاص ذیل مکلف به پرداخت مالیه می باشند:

۱- مالیه دهنده از درک عرضۀ تابع مالیه.

۲- وارد کننده از درک واردات تابع مالیه.

(۴) مالیه برارزش افزوده طبق حکم جزء (۱) فقرۀ (۳) این ماده ازطرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماليه وركوونكي لخوا، د عرضې له ترلاسه كوونكي څخه، حصول كېږي.

**مالياتي معافيتونه**

**پنځمه ماده:**

(۱) ماليه وركوونكى د لاندې عرضو له دركه پر زياتي ارزښت له ماليې څخه معاف دى او ددې قانون د نولسمې مادې د حكم مطابق، د مجرايي وړ ماليې مستحق ندى:

۱- د قانون د حكمونو مطابق صحي خدمتونه.

۲- د قانون د حكمونو مطابق منظور شوي تعليمي او تحصيلي خدمتونه.

۳- د قانون د حكمونو مطابق مالي او د بيمې خدمتونه.

۴- د شخصي استوګنې په منظور، د عقاري ملكيتونو لېږد يا اجاره.

۵- د ديني خدمتونو وړاندې كول.

٦- بشر دوستانه خدمتونه.

۷- هغه اجناس او خدمتونه چې د طبيعي آفتونو، صنعتي پېښنو او فاجعو (ناورين) له پېښېدو وروسته د بيا

ماليه دهنده، از دريافت كنندۀ عرضه، حصول مى گردد.

**معافيت هاى مالياتى**

**مادۀ پنجم:**

(۱)ماليه دهنده ازدرك عرضه هاى ذيل از ماليۀ برارزش افزوده معاف بوده و مطابق حكم مادۀ نزدهم اين قانون، مستحق ماليۀ قابل مجرائى نمى باشد:

۱- خدمات صحى مطابق احكام قانون.

۲- خدمات تعليمى و تحصيلى منظور شده مطابق احكام قانون.

۳- خدمات مالى و بيمه مطابق احكام قانون.

۴- انتقال يا اجارۀ ملكيت هاى عقارى به منظور رهايش شخصى.

۵- ارايه خدمات دينى.

٦- كمك هاى بشردوستانه .

۷- اجناس و خدمات كه به منظور بازسازى بعد از وقوع آفات طبيعى، حوادث صنعتى و فاجعه ها

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړونې په منظـــور، د دولتـــي ادارو لاس رسی ته ورکول کېږي.

۸- په بدني روزنې او سپورت پـــورې اړوند خدمتونه.

(۲) لاندې واردات پر زياتي ارزښت له ماليې څخه معاف دي:

۱- په ګمرکي تعرفـــه کـــې درج د شخصي استفادې په غرض د مسافرينو اجناس.

۲- د مهـــاجرينو او راســـتنېدونکو شخصي اجناس.

۳- د قانون د حکمونـــو مطـــابق، د ديپلوماتانو اجناس.

۴- په اړوندو فعاليتونو کې د استفادې په مقصد د کانونو او پټروليم په قوانينو کې د درج شوي جوازليک لرونکـــي شخص په واسطه، وارده ماشين آلات او پرزه جات.

۵- ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې عرضې.

(۳) ددې مادې په ( ۱ او ۲ ) فقـــره کې د درج شوې عرضې او وارداتـــو مشخصات په جلا مقرره کې تنظيمېږي.

بدســـترس ادارات دولتـــی قـــرار می گيرد.

۸- خدمات مربوط به تربيت بدنی و سپورت.

(۲) واردات ذيل از ماليـــه بـــرارزش افزوده معاف می باشد:

۱- اجنـــاس مســـافرين غـــرض اســـتفادۀ شخصـــی منـــدرج تعرفـــۀ گمرکی.

۲- اجناس شخصی مهاجرين و عودت کنندگان.

۳- اجناس ديپلومات ها مطابق احکام قانون.

۴- ماشـــين آلات وپـــرزه جـــات وارده توسط شخص دارندۀ جوازنامـــۀ منـــدرج قـــوانين معـــادن وپتـــروليم به مقصد اســـتفاده درفعاليـــت هـــای مربوط.

۵- عرضه های مندرج فقرۀ (۱) اين ماده.

(۳)مشخصات عرضه و واردات مندرج فقره های (۱ و ۲) اين ماده درمقررۀ جداگانه تنظيم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د صفر نورم**

**شپږمه ماده:**

(۱) ماليه ورکوونکی د لاندې عرضو له درکه پر زياتي ارزښت د مـاليې د صفر نورم تابع دی او د دې قـانون د نولسمې مـادې د حکـم مطـابق، د مجرايي وړ ماليې مستحق دی:

۱- له هېواده بهر د استفادې په غرض د اجناسو يا خدمتونو صادرات.

۲- د اجناسـو يـا مسـافر بـری، بين المللي ترانسپورت، د هغهٔ د اړوندو اجناسو او خدمتونو دعرضې په شمول.

۳- له يوهٔ شخص څخه بل ثبت شوي شخص ته د فعال تشبث پـه توګـه د تشبث د يوې برخې يا ټول د لېږد پـه منظور، د اجناسو عرضه، پدې شـرط چې د معاملې اړخونو په ليکلـي ډول پرلېږد موافقه کړې وي او جزئيات يې له لېږد څخه د مخه د ماليې وزارت ته په ليکلې توګه خبر ورکړی وي.

۴- لومړني غذايي مواد( غـنم، اوړه، وريجې، بوره، غذايي غوړي، چـای،

**نورم صفر**

**مادهٔ ششم:**

(۱) ماليه دهنده ازدرک عرضه هـای ذيل تابع نورم صفر ماليـه بـر ارزش افزوده بوده ومطابق حکم مادهٔ نزدهم اين قانون، مستحق ماليهٔ قابل مجرائی می باشد:

۱- صادرات اجناس يا خدمات غرض استفاده در خارج از کشور.

۲- ترانسپورت بين المللی اجناس يـا مسافربری بشمول عرضهٔ اجنـاس و خدمات مربوط آن.

۳-عرضهٔ اجناس به منظور انتقال يک قسمت يا کل تشبث، منحيث تشـبث فعال ازيک شخص به شـخص ثبـت شدهٔ ديگـر، مشـروط بـر اينکـه طرفين معاملـه طور کتبی به انتـقال موافقه نموده وجزئيات آن را قبـل از انتقال به وزارت ماليه کتباً اطلاع داده باشند.

۴- مواد غذايی اوليه (گنـدم، آرد، برنج، بوره، روغن غذايی، چای، پياز،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیاز، کچالو او مالگه).

۵- دکور د استفادې وړلومړني مـــواد (د ډېروسکاره، د سون لرګي، مایع ګاز او صابون).

(۲) لاندې واردات پرزیاتي ارزښت د مالیې صفر دنورم تابع دي:

۱- لومړني غذایي مواد (غــنم، اوړه، وریجې، بوره، غذایي غوړي، چـــای، پیاز، کچالو او مالگه).

۲- کتابونه او درسي مواد.

(۳) ددې مادې په (۱ او ۲) فقره کې د درج شـــوې عرضـــې او وارداتـــو مشخصات، پـــه جـــلا مقـــرره کـــې تنظیمېږي.

## دریم فصل

## ثبت

**الزامي ثبت**

**اوومه ماده:**

(۱) پر زیاتي ارزښت د مالیې د ثبـــت حد دوه سوه میلیونه افغانۍ دی.

د وزیرانو شوري کولای شي له احوالو سره سم، دهغهٔ اندازې ته تغییر ورکړي.

کچالو ونمک).

۵- مواد اولیه مورد اســـتفادهٔ منـــزل (ذغال سنگ، چوب سوخت، گاز مایع وصابون).

(۲) واردات ذیل تابع نورم صفرمالیه برارزش افزوده می باشد:

۱- مواد غذایی اولیه ( گنـــدم، آرد، برنج، بوره، روغن غذایی، چای، پیاز، کچالو ونمک).

۲- کتب وموواددرسی.

(۳) مشخصـــات عرضـــه و واردات مندرج فقره های (۱ و۲) این مـــاده درمقـــــرهٔ جداگانـــــه تنظـــــیم می گردد.

## فصل سوم

## ثبت

**ثبت الزامی**

**مادهٔ هفتم:**

(۱) حد ثبت مالیه بر ارزش افـــزوده مبلغ دو صد میلیون افغانی می باشد.

شورای وزیران مـــی توانـــد حســـب احوال اندازهٔ آن را تغییر دهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د اقتصادي فعالیت لرونکی شخص په لاندې حالاتو کې پر زیاتي ارزښت د مالیې په ثبت مکلف دی:

۱- په هغهٔ صورت کې چې په تېرو دوولسو میاشتو کې د شخص د عرضې مجموعي ارزښت، پر زیاتي ارزښت د مالیې د ثبت له حد څخه زیات وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د موجودو سندونو او مدارکو مطابق، په دوولسو راتلونکو میاشتو کې د شخص د عرضې مجموعي ارزښت پر زیاتي ارزښت د مالیې د ثبت له حد څخه زیات پېشبیني شي.

(۳) د مرتبط شخص د مالیې د تابع عرضو ارزښت هم د دې مادې د (۲) فقرې د حکم مطابق په پام کې نیول کېږي.

(۴) هغه شخص چې ددې قانون د حکم مطابق په ثبت مکلف وي، د ثبت غوښتنلیک دې په منظوره شوې فورمه کې په ثبت د مکلف کېدو له وختــه د پنځلسو ورځو مودې په ترڅ کې، د مالیې وزارت ته وړاندې کړي.

(۲) شخص دارای فعالیت اقتصادی در حالات ذیل مکلف به ثبت مالیه بر ارزش افزوده می باشد:

۱- در صورتی که ارزش مجموعی عرضهٔ شخص در دوازده ماه گذشته بیشتر از حد ثبت مالیه بر ارزش افزوده باشد.

۲- در صورتی که مطابق اسناد و مدارک موجود، ارزش مجموعی عرضهٔ شخص در دوازده ماه آینده بیشتر از حد ثبت مالیه بر ارزش افزوده پیشبینی گردد.

(۳) ارزش عرضه های تابع مالیهٔ شخص مرتبط نیز مطابق حکم فقرهٔ (۲) این ماده در نظر گرفته می شود.

(۴) شخصی که مطابق حکم این قانون مکلف به ثبت می باشد، درخواست ثبت را در فورمهٔ منظور شده در خلال مدت پانزده روز از زمان مکلف شدن به ثبت، به وزارت مالیه ارایه نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵) ثبت شوی شـــخص ددې مـــادې مطابق، د ثبت له نېټې څخه اقل حد د یوهٔ کال مودې لپاره، ثبت شوی پـــاتې کېږي.

(٦) د ثبت ډول په اړونده کړنلاره کې تنظیمېږي.

اختیاري ثبت

اتمه ماده:

(۱) هغه شخص چې ددې قـــانون د اوومې مادې دحکم مطابق، پـــه ثبـــت مکلف نه وي، کولای شي په اختیاري ډول، د ثبت غوښتنلیک وړاندې کړي.

(۲) د مالیې وزارت له لاندې مواردو څخه د ډاډ له ترلاسه کولو وروســـته، ددې مادې په (۱) فقـــره کـــې درج غوښتنلیک ورکوونکی شخص، ثبتوي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې شـــخص دمالیې تابع عرضه برابره کړي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې ثبت شوو اشخاصو ته دمـــالیې د تـــابع عرضـــو اقل حد (۷۵) فیصده یا د صادراتو په مقصد د هغو اقل حد (۲۵) فیصـــده

(۵)شخص ثبت شده مطابق این ماده، برای مدت حد اقل یک سال از تاریخ ثبـــت، ثبـــت شـــده بـــاقی می ماند.

(٦) طرز ثبت در طرزالعمل مربـــوط تنظیم می گردد.

ثبت اختیاری

مادهٔ هشتم:

(۱) شخصی که طبق حکم مادهٔ هفتم این قانون مکلف به ثبت نباشد، مـــی تواند بشکل اختیاری درخواست ثبت را ارایه نماید.

(۲) وزارت مالیـــــه بعد از حصول اطمینان از موارد ذیـــل، شـــخص در خواست کنندهٔ مندرج فقرهٔ (۱) ایـــن ماده را ثبت می نماید:

۱- درصورتی که شخص عرضهٔ تابع مالیه را فراهم نماید.

۲- درصورتی که حداقل (۷۵) فیصد عرضه های تابع مالیه را به اشـــخاص ثبت شـــده یا حـــــداقل (۲۵) فیصد آن را به مقصـــد صـــادرات فـــراهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابره کړي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د اقتصادي فعالیت د ثابت مقر لرونکی وي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې مالیاتي قوانین یې رعایت کړي وي.

(۳) ثبت شوی شخص، ددې مادې د (۱) فقرې د حکم مطابق، د ثبت له نېټې څخه اقل حد د دوو کلونو مودې لپاره ثبت شوی پاتې کېږي.

(۴) د ثبت د ډول نحوه په اړونده کړنلاره کې تنظیمېږي.

## تصدیق لیک اود ثبت لغو

نهمه ماده:

(۱) دمالیې وزارت، ددې قانون د اوومې اواتمې مادې دحکمونوپه پام کې نیولو سره پر زیاتي ارزښت دمالیې دثبت تصدیق لیک صادروي.

(۲) هغه شخص چې د هغهٔ ثبت لغو کېږي، داسې ګڼل کېږي چې د په لاس کې د اجناسو د مالیې تابع عرضه یې د ثبت د لغو پر وخت د مالکیت ترلاسه کولو یا د اجناسو د پیر له درکه د

نماید.

۳- درصورتی که دارای مقر ثابت فعالیت اقتصادی باشد.

۴- درصورتی که قوانین مالیاتی را رعایت نموده باشد.

(۳) شخص ثبت شده، مطابق حکم فقرهٔ (۱) این ماده، برای مدت حداقل دو سال از تاریخ ثبت، ثبت شده باقی می ماند.

(۴) نحوهٔ طرزثبت در طرزالعمل مربوط تنظیم می گردد.

## تصدیق نامه و لغو ثبت

مادهٔ نهم:

(۱) وزارت مالیه ، بانظرداشت احکام مواد هفتم وهشتم این قانون تصدیق نامهٔ ثبت مالیه بر ارزش افزوده را صادر می نماید.

(۲) شخصی که ثبت وی لغو می گردد، چنین پنداشته می شود که عرضهٔ تابع مالیهٔ اجناس دست داشته را در زمان لغو ثبت به ارزش مساوی به قیمت پرداخت شده یا قابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړل شوې يا ورکړې وړ بيې په مساوي ارزښت برابره کړېده. دغه حکم په هغهٔ صورت کې تطبيقېږي چې شخص ددې قانون د نولسمې او درې دېرشمې مادې د حکم مطابق، د اجناسو له درکه د مجرايي وړ ماليې مستحق پېژندل شوی وي.

(۳) که چېرې ثبت شوی شخص خپل اقتصادي فعاليت درولی وي، مکلف دی، د ثبت د لغو غوښتنليک د فعاليت د درولو له نېټې څخه د پنځلسو ورځو مودې په ترځ کې د ماليې وزارت ته وړاندې کړي.

(۴) په تصديق ليکونو او د ثبت په لغو پورې اړوند قواعد او مکلفيتونه په کړنلاره کې تنظيمېږي.

## څلورم فصل

## د وارداتو او د اجناسو او خدمتونو د عرضې قواعد

### د عرضې نېټه

**لسمه ماده:**

(۱) لاندې نېټې د اجناسو يا خدمتونو د

پرداخت از درک کسب مالکيت يا خريد اجناس فراهم نموده است. اين حکم در صورتی تطبيق می گردد که شخص طبق حکم مواد نزدهم و سی و سوم اين قانون، ازدرک اجناس، مستحق ماليه قابل مجرائی شناخته شده باشد.

(۳) هرگاه شخص ثبت شده فعاليت اقتصادی خويش را متوقف نموده باشد، مکلف است، درخواست لغو ثبت را در خلال مدت پانزده روز از تاريخ توقف فعاليت، به وزارت ماليه ارايه نمايد.

(۴) قواعد و مکلفيت های مربوط به تصديق نامه ها و لغو ثبت در طرزالعمل تنظيم می گردد.

## فصل چهارم

## قواعد واردات وعرضهٔ اجناس و خدمات

### تاريخ عرضه

**مادهٔ دهم:**

(۱) تاريخ های ذيل برای عرضهٔ اجناس

عرضې لپاره هر يو چې مقــدم وي، د عرضې نېټه ده:
۱- هغه نېټه چــې پــه هغــې کــې، صورت حساب صادرېږي.
۲- هغه نېټه چې په هغې کې ورکـــړه (تأديه) صورت مومي.
۳- هغه نېټه چې په هغې کې اجنـــاس ليږدېږي يا خدمتونه برابرېږي.
(۲) د تحفې په توګه، د اجناســو او خدمتونو د عرضې نېټه، لاندې نېټــې دي:
۱- د اجناسو په هکله، د هغو د لېږد نېټه.
۲- د خدمتونو په هکلــه، د هغــو د بشپړېدو نېټه.
(۳) د شخصي استفادې يا معاف پــه مقصد داجناسو د عرضې نېټه، هغه نېټه ده چې اجناس د لومړي ځل لپاره پدې منظور تراستفادې لاندې نيول کېږي.
(۴) د مالي اجارې په مقصد د اجناسو د عرضې نېټه، د اجارې د پيل نېټه ده.
(۵) که چېرې د خـــدمتونو عرضـــه د اجارې (د مالي اجارې په استثني) يـــا

يا خدمات هريک که مقدم باشد، تاريخ عرضه می باشد:
۱- تاريخی که در آن، صورت حساب صادر می گردد.
۲- تاريخی که در آن تأديـــه صورت می گيرد.
۳- تاريخی که در آن اجناس انتقال يا خدمات فراهم می گردد.
(۲)تاريخ عرضۀ اجنـــاس و خـــدمات منحيث تحفـــه، تـــاريخ هـــای ذيـــل می باشد:
۱- در مورد اجناس، تاريـــخ انتـــقال آن.
۲- در مورد خدمات، تاريخ تکميـــل آن.
(۳) تاريخ عرضۀ اجناس بـــه مقصـــد استفادۀ شخصی يا معاف، تاريخی است که اجناس برای بار اول به اين منظور مورد استفاده قرار می گيرد.
(۴) تاريخ عرضۀ اجناس بـــه مقصـــد اجارۀ مالی ،تاريخ آغاز اجاره می باشد.
(۵) هرگاه عرضۀ خدمات بر اســـاس اجاره (به استثنای اجارۀ مـــالی) يـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرارداد یا د قانون د حکمونو پر بنسټ، د دوره ای ورکړو له لارې صورت ومومي، د هرې وروستۍ عرضې لپاره، د ورکړې (تأديې) يا ورکړې وړ نېټه هره یوه چې مقدمه وي، د عرضې نېټه ګڼل کېږي.

## د عرضې ځای

### یوولسمه ماده:

(۱) د اجناسو د عرضې ځای هغه ځای دی چې په هغهٔ کې د عرضه کوونکي په واسطه اجناس تحویل ورکول کېږي، که چېرې د اجناسو تحویلي، د ترانسپورت په وسیله لېږد ایجاب کړي، د اجناسو د عرضې ځای هغه ځای دی چې اجناس له هغهٔ ځخه حمل کېږي.

(۲) د خدمتونو د عرضې ځای هغه ځای دی چې له هغه ځخه خدمتونه صورت مومي.

(۳) که چېرې ترلاسه کوونکی، د هغهٔ نماینده یا بل شخص له لاندې خدمتونو ځخه په افغانستان کې استفاده وکړي، داسې ګڼل کېږي چې دخدمتونو عرضې

قرارداد یا احکام قانون از طریق پرداخت های دوره ای، صورت گیرد، برای هر عرضهٔ بعدی،تاریخ تأدیه یا قابل تأدیه هریک که مقدم باشد، تاریخ عرضه پنداشته می شود.

## محل عرضه

### مادهٔ یازدهم:

(۱) محل عرضهٔ اجناس مکانی است که در آن اجناس توسط عرضه کننده تحویل داده می شود. هرگاه تحویلی اجناس، ایجاب انتقال را به وسیلهٔ ترانسپورت نماید، محل عرضهٔ اجناس مکانی است که اجناس ازآن حمل می گردد.

(۲) محل عرضهٔ خدمات مکانی است که از آن عرضهٔ خدمات صورت می گیرد.

(۳) هرگاه دریافت کننده، نماینده وی یا شخص دیگری از خدمات ذیل در افغانستان استفاده نماید، طوری پنداشته می شود که عرضهٔ خدمات در

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې صورت مونډلی دی:
۱- د حق الطبع، حق الاختراع او سوداګريزو نښو لېږد، پرېښودل يا د استفادې د حق ورکول.
۲- محاسبوي، مهندسي، مشورتي، انجنيري او حقوقي خدمتونه.
۳- د اطلاعاتو( داتا) پروسس او د معلوماتو برابرول.
۴- اعلانونه او اشتهارات.
۵- د پرسونل (کارکوونکو) تدارک.
٦- د يوهٔ عمل له سرته رسولو څخه ډډه يا د هر ډول وضعيت تحمل.
(۴) د غير منقولې شتمنۍ په اړه د خدمتونو دعرضې ځای چې په افغانستان کې موقعيت لري، افغانستان دی.
(۵) د جواز د صادرولو د مرجع په واسطه د خدمتونو د عرضې ځای، لدې څخه په صرف نظر چې جواز، اجازه ليک ، تصديق ليک، يا نور سندونه له کوم ځای څخه صادر شويدي، داسې ګڼل کېږي چې د خدمتونو عرضې په افغانستان کې صورت مونډلی دی.

افغانستان صورت گرفته است:
۱-انتقال، واگذاری یا اعطای حق استفاده از حق الطبع، حق الاختراع و علایم تجارتی.
۲- خدمات محاسبوی، مهندسی، مشورتی، انجنیری و حقوقی.
۳- پروسس اطلاعات (داتا) و تهیه معلومات.
۴- اعلانات و اشتهارات.
۵- تدارک پرسونل (کارکنان).
٦- امتناع ازانجام یک عمل یا تحمل هرنوع وضعیت.
(۴) محل عرضهٔ خدمات در رابطه به دارایی غیر منقول که در افغانستان موقعیت دارد، افغانستان می باشد.
(۵) محل عرضهٔ خدمات توسط مرجع صدور جواز، صرف نظر از اینکه جواز، اجازه نامه، تصدیق نامه یا سایر اسناد از کدام محل صادر گردیده، طوری پنداشته می شود که عرضهٔ خدمات در افغانستان صورت گرفته است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عرضې ارزښت

**دوولسمه ماده:**

(۱) د اجناسو یا خدمتونو د عرضې ارزښت د هغو بیه ده.

(۲) د هغو اجناسو ارزښت چې د شخصي یا معاف استفادې لپاره تر استفادې لاندې نیول کېږي، عبارت دی له :

۱- د اجناسو د مالکیت د پېر یا ترلاسه کولو له درکه ورکړل شوې یا د ورکړې وړ بیه، پدې شرط چې د مجرایي وړ مالیه ددې قانون د نولسمې مادې د حکم مطابق، مجاز ګڼل شوې وي.

۲- په نورو مواردو کې د اجناسو د مالکیت د پېر یا ترلاسه کولو له درکه ورکړل شوې یا د ورکړې وړ بیه.

(۳) د مالي اجارې له لارې د اجناسو د عرضې ارزښت عبارت دی له:

۱- د اجارې په قرارداد کې، د درج شوې شتمنۍ بیه یا ارزښت، پدې شرط چې موًجر او مستأجر مرتبط اشخاص نه

## ارزش عرضه

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) ارزش عرضهٔ اجناس یا خدمات قیمت آن می باشد.

(۲) ارزش عرضهٔ اجناسی که جهت استفادهٔ شخصی یا معاف مورد استفاده قرار می گیرد، عبارت است از:

۱- قیمت پرداخت شده یا قابل پرداخت از درک خرید یا کسب مالکیت اجناس، مشروط براینکه مالیهٔ قابل مجرائی طبق حکم مادهٔ نزدهم این قانون مجاز دانسته شده باشد.

۲- قیمت پرداخت شده یا قابل پرداخت از درک خرید یا کسب مالکیت اجناس در سایر موارد.

(۳) ارزش عرضهٔ اجناس ازطریق اجارهٔ مالی عبارت است از:

۱- قیمت یا ارزش دارایی مندرج قرارداد اجاره، مشروط بر اینکه مؤجر و مستأجر، اشخاص مرتبط

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي.

۲- په نورو مواردو کې، د اجارې په پیل کې د شتمنۍ د ورځې ارزښت.

(۴) که چېرې اجناس یا خدمتونه د مالیې ورکوونکي لخوا مرتبط شخص ته له بیې پرته یا د ورځې له ارزښت څخه د کمې بیې په بدل کې برابر شي، د ورځې ارزښت، د عرضې په نېټه کې، د عرضې ارزښت پېژندل کېږي.

(۵) د هغو، اجناسو یا خدمتونو د عرضې ارزښت چې غیر مرتبط شخص ته له بیې پرته برابرېږي، صفر دی. ددې مادې د (۲) فقرې حکم لدې امر څخه مستثني دی.

(٦) د اجناسو یا خدمتونو د عرضې د ټاکلو ډول چې پدې ماده کې پیشبیني شوی ندی، په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

## د ورځې په نرخ د ارزښت ټاکل

دیارلسمه ماده:

(۱) د عرضې د ورځې ارزښت په یوه ازاده معامله کې دغیر مرتبطو

نباشند.

۲-ارزش روز دارایی در آغاز اجاره در سایر موارد.

(۴) هرگاه اجناس یا خدمات ازطرف مالیه دهنده برای شخص مرتبط، بدون قیمت یا در بدل قیمت کمتر از ارزش روزفراهم گردد، ارزش روز، در تاریخ عرضه، ارزش عرضه شناخته می شود.

(۵) ارزش عرضهٔ اجناس یا خدمات که بدون قیمت برای شخص غیر مرتبط فراهم می شود، صفر می باشد.حکم فقرهٔ (۲) این ماده ازین امر مستثنی است.

(٦) طرز تعیین ارزش عرضهٔ اجناس یا خدمات که در این ماده پیشبینی نگردیده است، درطرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

## تعیین ارزش به نرخ روز

مادهٔ سیزدهم:

(۱) ارزش روز عرضه براساس قیمت واقعی عرضه میان اشخاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشخاصوترمنځ دعرضې دواقعي بيې پربنسټ تر نورمالو شرايطو لاندې، ټاکل کېږي.

(۲) که چېرې بيه ددې مادې د (۱) فقرې د حکم مطابق ونه ټاکل شي، په بازار کې د غير مرتبطو اشخاصو ترمنځ د عرضې د ورځې ارزښت د ورته عرضې (د خصوصيت، کيفيت، کميت، کارونې، د موادو د ډول او شهرت له نظره د زيات ورته والي لرل) او حقيقي عرضې ترمنځ تفاوت ته په پام سره ټاکل کېږي.

(۳) که چېرې بيه ددې مادې د (۱ او ۲) فقرې د حکم مطابق ونه ټاکل شي له هغې مناسبې تګلارې(شوې) څخه چې دماليې وزارت په واسطه منظورېږي، په استفادې سره ټاکل کېږي.

**<u>له خرڅلاو (پلور) څخه وروسته پر زياتي ارزښت د ماليې تصحيح</u>**

**څوارلسمه ماده:**

(۱) له خرڅلاو وروسته پر زياتي

غير مرتبط دريک معاملۀ آزاد تحت شرايط نورمال تعيين می گردد.

(۲) هرگاه قيمت طبق حکم فقرۀ (۱) اين ماده تعيين شده نتواند، ارزش روزعرضه در بازار بين اشخاص غير مرتبط بانظرداشت تفاوت ميان عرضۀ مشابه (داشتن مشابهت زياد از نظر خصوصيت، کيفيت، کميت، کاربرد، نوعيت مواد و شهرت) وعرضۀ حقيقی تعيين می گردد.

(۳) هرگاه قيمت طبق حکم فقره های (۱و۲) اين ماده تعيين شده نتواند، با استفاده ازشيوۀ مناسب که توسط وزارت ماليه منظور می گردد، تعيين می شود.

**<u>تصحيح ماليه بر ارزش افزوده بعد از فروش</u>**

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) ماليه بر ارزش افزوده بعد از فروش

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښت ماليه په لاندې حالاتو کې تصحيح کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د ماليې تابع عرضه لغو شي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د ماليې د تابع عرضې ماهيت يا بيه تغيير ومومي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې اجناس يا د هغو يوه برخه چې د ماليې تابع عرضه ده، عرضه کوونکي ته مسترده شي.

(۲) که چېرې له خرڅلاو وروسته د تصحيح له امله د ماليې د تابع عرضې له درکه پر زياتي ارزښت د ورکړې وړماليه له هغې ماليې څخه چې دمخه محاسبه شوې ده، تغيير(بدلون) ومومي، دغه ماده پر عرضه کوونکي او ترلاسه کوونکي باندې د تطبيق وړ ده.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی تغيير زياتېدنه وي، په ماليه کې زيات شوی مبلغ، ددې قانون د يوويشتمې مادې د حکم مطابق په دبت نوټ کې درج کېږي. عرضه کوونکی زيات شوی مبلغ د ورکړې وړ ماليې په توګه او ترلاسه کوونکی

در حالات ذيل تصحيح مى گردد:

۱- در صورتى که عرضهٔ تابع ماليه لغو گردد.

۲- در صورتى که ماهيت يا قيمت عرضهٔ تابع ماليه تغيير نمايد.

۳- درصورتى که اجناس يا قسمتى از آن که عرضهٔ تابع ماليه بوده، به عرضه کننده مسترد گردد.

(۲) هرگاه از اثر تصحيح بعد از فروش، ماليه بر ارزش افزوده قابل پرداخت از درک عرضهٔ تابع ماليه از ماليه ايکه قبلاً محاسبه شده است، تغيير نمايد، اين ماده بالاى عرضه کننده و دريافت کننده قابل تطبيق مى باشد.

(۳) هرگاه تغيير مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده افزايش باشد، مبلغ افزايش يافته درماليه، طبق حکم مادهٔبيست ويکم اين قانون درج دبت نوت مى گردد. عرضه کننده مبلغ افزايش يافته رامنحيث ماليهٔ قابل پرداخت ودريافت کننده آن را منحيث ماليهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د مجرايي وړ مــاليې پــه توګــه محسوبوي.

(۴) که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی تغيير کمونه (کموالی) وي، په ماليه کې کم شوی مبلغ، ددې قانون د يوويشتمې مادې د حکم مطابق په کرېدت نوټ کې درج کېږي. عرضه کوونکی کم شوی مبلغ د مجرايي وړ ماليې په توګه او ترلاسه کوونکی هغه د ورکړې وړ ماليې په توګه محسوبوي.

عرضه کوونکی، له خرڅلاو وروسته د ماليې تصحيح پر زياتي ارزښت د ماليې په دوره کې چې تصحيح په هغهٔ کــې صورت موندلی او ترلاسه کوونکی هغه د دبت نوټ يا کرېدت نوټ د ترلاسه کولو په وخت(په ترڅ) کې، په پام کې نيسي.

**واردات**

**پنځلسمه ماده:**

د اجناسو د وارداتو نېټه د ګمرکونو د قانون د حکمونو مطابق، هېواد تــه د اجناسو د داخلېدو نېټه ده او په نــورو

قابــــل مجرائــــی محســــوب می نماید.

(۴) هرگاه تغيير مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده کاهش باشد، مبلغ کاهش يافتــه درماليه، طبق حکم مادهٔ بيست ويکــم اين قانون درج کريدت نوت ميگردد. عرضه کنندهٔ مبلــغ کــاهش يافتــه رامنحيث ماليهٔ قابل مجرائی ودريافت کننده آن را منحيث ماليهٔ قابل پرداخت محسوب می نمايد.

عرضــــه کننــــده، تصــــحيح ماليــــهٔ بعــــدازفروش را در دورهٔ ماليــــه بــــر ارزش افــــزوده کــــه تصــــحيح درآن صورت گرفته ودريافــت کننــده آن راحين دريافــت دبــت نــوت يــا کريــــــدت نــــــوت، درنظــــــر می گيرند.

**واردات**

**مادهٔ پانزدهم:**

تــــاريخ واردات اجنــــاس مطــــابق احکــــام قــــانون گمرکــــات، تــــاريخ دخــــول اجنــــاس بــــه کشــــوربوده و

(c) ketabton.com: The Digital Library



مواردو کې داخلي مارکېټ ته د اجناسو د داخلېدو نېټې ته اعتبار ورکول کېږي.

## د وارداتو ارزښت

**شپاړسمه ماده:**

د اجناسو د وارداتو ارزښت، د لاندې موارډو له مجموع څخه ټاکل کېږي:

۱-دګمرکونو دقانون دحکمونو مطابق دګمرکي محصول او عوارضودورکړې په منظور ټاکل شوی ارزښت، که څه، هم چې ګمرکي محصـول دورکـړې وړندي.

۲- د ګمرکي محصول او عوارضو، نورو محصولاتو او مجازو لګښتونو مبلغ.

پر زیاتې ارزښت د ورکړې وړ مالیه لدې حکم څخه مستثنی ده.

۳- ددې قانون د دریمې مادې په (٦) فقره کې د هر ډول خدمتونو بیه، پدې شرط چې ددې مادې د (۱) جـزء د حکم مطابق ارزښت پکې شامل نه وي.

درسایر موارد به تاریخ دخول اجناس به مارکیت داخلی اعتبار داده می شود.

## ارزش واردات

**مادۀ شانزدهم:**

ارزش واردات اجناس، ازمجموع موارد ذیل تعیین می گردد:

۱-ارزش تعیین شده به منظور پرداخت محصول و عوارض گمرکی طبق احکام قانون گمرکات، گرچه محصول گمرکی قابل پرداخت نباشد.

۲-مبلغ محصول و عوارض گمرکی، سایر محصولات و مصارف مجاز.

مالیه بر ارزش افزوده قابل پرداخت از این حکم مستثنی است.

۳- قیمت هر نوع خدمات مندرج فقرۀ (٦) مادۀ سوم این قانون، مشروط براینکه طبق حکم جزء (۱)این ماده شامل ارزش نباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بهرنیو خدمتونو د عرضـــې لـــه درکه د ترلاسه کوونکي د ورکړې مکلفیت

**اوولسمه ماده:**

(۱) که چېرې د شخص لخوا خدمتونه د هېواد له بهر څخه د هېواد په دننه کې مالیې ورکوونکي ته عرضـــه شـــي او ترلاسه کوونکی د معاف یا شخصـــي استفادې په مقصد له هغو څخه ګټـــه واخلي دغه عرضه، د ترلاسه کوونکي په واسطه د مالیې د تابع عرضې په توګه په عین وخت او عین بیې سره حقیقـــي عرضه پېژندل کېږي.

(۲) که چېـــرې مالیـــه ورکـــوونکی، خدمتونه د نمایندګۍ یا د خپل فعالیت د برخې په ذریعه له بهر څخـــه ترلاســـه کړي، پدې حالت کې عرضه کوونکی او ترلاسه کوونکی، د دوو جلا مستقلو اشخاصو په توګه ګڼل کېږي.

## مکلفیت پرداخت دریافت کننده از درک عرضـــــــۀ خـــــــدمات خارجی

**مادۀ هفدهم:**

(۱) هرگاه خدمات از طرف شخص از خارج کشور به مالیه دهنده در داخل کشور عرضه گردد و دریافت کننـــده بـــه مقصـــد عرضـــۀ معـــاف یـــا شخصی از آن استفاده نمایـــد، ایـــن عرضه توسط دریافت کننده منحیـــث عرضۀ تابع مالیه در عین زمان و عـــین قیمـــت، عرضـــۀ حقیقـــی پنداشـــته می شود.

(۲) هرگاه مالیه دهنده ، خدمات را ذریعۀ نمایندگی یا بخش فعالیت خویش ازخارج دریافت نماید، درین حالـــت عرضه کننده ودریافت کننده منحیـــث دوشخص جداگانـــۀ مســـتقل تلقـــی می گردند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم فصل

## پر زياتي ارزښت د ورکړې وړ ماليه

### د ورکړې وړ ماليې د محاسبې ډول

**اتلسمه ماده:**

پر زياتي ارزښت د ماليې د هرې دورې په اړه د ثبت شوي شخص په واسطه د ورکړې وړ ماليه عبارت ده ، د ورکړې وړ ماليې د مبلغ منفي د مجرايـي وړ ماليې له مبلغ څخه.

### د مجرايي وړ ماليه

**نولسمه ماده:**

(۱) د مجرايي وړ ماليه د ورکړل شوې يا د ورکړې وړ ماليې په وړاندې په هغهٔ صورت کې د عرضې يا وارداتو په نېټه کې د مجرايي وړ ده چې ماليه ورکوونکی لاندې سندونه په لاس کې ولري:

۱- د ماليې د تابع عرضې لپاره، پر زياتي ارزښت د ماليې صورت حساب.

۲- د ماليې د تابع وارداتو لپاره له

## فصل پنجم

## ماليه برارزش افزوده قابل تأديه

### طرز محاسبهٔ ماليهٔ قابل تأديه

**مادهٔ هجدهم:**

ماليهٔ قابل تأديه توسط شخص ثبت شده درارتباط به هردورهٔ ماليه بر ارزش افزوده، عبارت ازمبلغ ماليهٔ قابل پرداخت منفی مبلغ ماليهٔ قابل مجرائی می باشد.

### ماليهٔ قابل مجرائی

**مادهٔ نزدهم:**

(۱) ماليهٔ قابل مجرائی دربرابر ماليهٔ پرداخته شده يا قابل پرداخت درصورتی درتاريخ عرضه ياواردات قابل مجراء می باشد که ماليه دهنده اسناد ذيل رابدست داشته باشد:

۱- برای عرضهٔ تابع ماليه، صورت حساب ماليه بر ارزش افزوده.

۲- برای واردات تابع ماليه، اسناد

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو اړوندو سندونو سره د ګمرکونو په قانون کې درج د وارداتو سندونه.

(۲) شخص په خپل ګدام کې د موجودو اجناسو د مجرايي وړ ماليې لپاره چې د ثبت په وخت کې يې په لاس کې لرلي دي، په لاندې حالاتو کې د مجرايي غوښتنه کولای شي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې په ګدام کې موجود اجناس د عرضې يا د ماليې د تابع وارداتو په توګه د ثبت له نېټې څخه دمخه له دريو مياشتو مودې څخه زيات حصول شوي نه وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د عرضې يا د ماليې د تابع وارداتو د ورکړل شوې ماليې سندونه د ماليې وزارت ته وړاندې کړای شي.

(۳) د عرضې يا دماليې د تابع وارداتو چې په لاندې مقاصدو ورڅخه استفاده وشي له درکه د مجرايي وړ ماليې مجراء نه ورکول کېږي:

۱- معاف يا شخصي استفاده.

۲- تېز رفتار عراده جات، خو داچې د هغو خرڅلاو يا اجاره د شخص اصلي

واردات مندرج قانون گمركات با سايراسنادمربوطه .

(۲) شخص براى ماليهٔ قابل مجرائى اجناس موجود درگدام خويش كه درزمان ثبت بدست داشته است درحالات ذيل درخواست مجرائى نموده مى تواند:

۱- درصورتى كه اجناس موجود گدام منحيث عرضه يا واردات تابع ماليه، بيشتراز مدت سه ماه قبل از تاريخ ثبت، حصول نشده باشد.

۲- درصورتى كه اسناد ماليهٔ تأديه شده از درک عرضه يا واردات تابع ماليه را به وزارت ماليه ارائه نموده بتواند.

(۳) ماليهٔ قابل مجرائى ازدرک عرضه يا واردات تابع ماليه كه به مقاصد ذيل استفاده گردد، مجراء داده نمى شود:

۱-استفادهٔ معاف يا شخصى.

۲-عراده جات تيز رفتار، مگر اينكه فروش يا اجارهٔ آن فعاليت اصلى

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي فعاليت وي يا له هغو څخه د تکسي په ډول استفاده وشي.

۳- د بلنو او هرکلي لګښتونه، خو داچې د شخص اصلي اقتصادي فعاليت بلنه او هرکلی وي.

(۴) که چېرې ماليه ورکوونکی، د ماليې تابع او معاف عرضې برابرې کړي، د مجرايي وړ ماليه د عرضو په تناسب په پام کې نيول کېږي.

## شپږم فصل

## پر زياتي ارزښت د ماليې سندونه

**پر زياتي ارزښت د ماليې صورت حساب**

**شلمه ماده:**

که چېرې ثبت شوی شخص بل ثبت شوي شخص ته دماليې تابع عرضه برابره کړي، مکلف دی دعرضې په وخت کې پر زياتي ارزښت دماليې د صورت حساب اصلي نسخه چې د لاندې مشخصاتو لرونکې وي، هغهٔ ته

اقتصادی شخص بوده يا ازآن به حيث تکسی استفاده گردد.

۳- مصارف دعوت ها وپذيرائی، مگراينکه فعاليت اصلی اقتصادی شخص، دعوت وپذيرائی باشد.

(۴)هرگاه ماليه دهنده، عرضه های تابع ماليه و معاف را فراهم نمايد، ماليهٔ قابل مجرائی به تناسب عرضه ها درنظر گرفته می شود.

## فصل ششم

## اسناد ماليه بر ارزش افزوده

**صورت حساب ماليه بر ارزش افزوده**

**مادهٔ بيستم:**

هرگاه شخص ثبت شده برای شخص ثبت شدهٔ ديگر عرضهٔ تابع ماليه را فراهم نمايد، مکلف است حين عرضه، نسخه اصلی صورت حساب ماليه بر ارزش افزوده را که حاوی مشخصات ذيل می باشد،

(c) ketabton.com: The Digital Library



صادره کړي:

۱- (پر زیاتي ارزښت د مالیې د صورت حساب) نوم د هغې په پورتنۍ برخه کې.

۲- د عرضه کوونکي او ترلاسه کوونکي نوم، آدرس او تشخیصیه نمبر.

۳- واحده پرله پسې (مسلسله) ګڼه او پر زیاتي ارزښت د مالیې د صورت حساب د صادرېدو نېټه.

۴- د عرضه شوو اجناسو مشخصات د هغو د مقدار او حجم په یادولو سره یا وړاندې شوي خدمتونه او هغه نېټه چې عرضې په هغې کې صورت موندلی دی.

۵- د عرضې بیه او پر زیاتي ارزښت د وضع شوې مالیې مبلغ.

## پر زیاتي ارزښت د مالیې کرېډت نوټ او د بت نوټ

**یوویشتمه ماده:**

(۱) پر زیاتي ارزښت د مالیې د بت نوټ هغه سند دی چې ددې قانون د خوارلسمې مادې د (۳) فقرې د حکم مطابق، د ثبت شوي عرضه کوونکي په

به وی صادر نماید:

۱- نام (صورت حساب مالیه بر ارزش افزوده) در قسمت بالایی آن.

۲- نام، آدرس و نمبر تشخیصیۀ عرضه کننده و دریافت کننده.

۳- شمارۀ مسلسل واحد و تاریخ صدور صورت حساب مالیه بر ارزش افزوده.

۴- مشخصات اجناس عرضه شده، باذکر مقدار و حجم آن، یا خدمات ارایه شده و تاریخ که در آن عرضه صورت گرفته است.

۵- قیمت عرضه و مبلغ مالیه بر ارزش افزوده وضع شده.

## کریدت نوت و دبت نوت مالیه بر ارزش افزوده

**مادۀ بیست ویکم:**

(۱) دبت نوت مالیه بر ارزش افزوده سندی است که طبق حکم فقرۀ (۳) مادۀ چهاردهم این قانون توسط عرضه کننده ثبت شده، به

(c) ketabton.com: The Digital Library



واسطه د عرضې ترلاسه کوونکي ته صادرېږي.

(۲) د بت نوټ د لاندې مشخصاتو لرونکی دی:

۱- (پر زیاتي ارزښت د مالیې د بت نوټ) نوم د هغهٔ په پورتنۍ برخه کې.

۲- د عرضه کوونکي او ترلاسه کوونکي نوم، آدرس او تشخیصیه نمبر.

۳- واحده پرله پسې ګڼه او د دبت نوټ د صادرېدو نېټه.

۴- د دبت نوټ د صادرېدو علت، د مالیې د تابع عرضې د تثبیت په منظور د معلوماتو په شمول چې دبت نوټ له هغو سره ارتباط مومي.

۵- په صورت حساب کې د درج شوې عرضې بیه، د بیې واقعي مبلغ، د دوو یادو شوو بیو ترمنځ تفاوت او پر زیاتي ارزښت د مالیې مبلغ چې لدې تفاوت سره ارتباط مومي.

(۳) پر زیاتي ارزښت د مالیې کرېډت نوټ هغه سند دی چې ددې قانون د څوارلسمې مادې د (۴) فقرې د حکم مطابق د ثبت شوي عرضه کوونکي په

دریافت کننده عرضه صادر می گردد.

(۲) دبت نوت دارای مشخصات ذیل می باشد:

۱- نام (دبت نوت مالیه بر ارزش افزوده) در قسمت بالایی آن .

۲- نام، آدرس و نمبر تشخیصیهٔ عرضه کننده و دریافت کننده.

۳- شمارهٔ مسلسل واحد و تاریخ صدور دبت نوت.

۴- علت صدور دبت نوت، به شمول معلومات به منظور تثبیت عرضهٔ تابع مالیه که دبت نوت به آن ارتباط می گیرد.

۵- قیمت عرضهٔ مندرج صورت حساب، مبلغ واقعی قیمت، تفاوت بین دو قیمت متذکره و مبلغ مالیه بر ارزش افزوده که به این تفاوت ارتباط می گیرد.

(۳) کریدت نوت مالیه بر ارزش افزوده سندی است که طبق حکم فقرهٔ (۴) مادهٔ چهاردهم این قانون توسط عرضه کنندهٔ ثبت شده، به

(c) ketabton.com: The Digital Library



واسطه د عرضې ترلاسه کوونکي ته صادرېږي.

(۴) کرېدت نوټ د لاندې مشخصاتو لرونکی دی:

۱- (پر زیاتي ارزښت د مالیې د کرېدت نوټ) نوم د هغهٔ په پورتنۍ برخه کې.

۲- د عرضه کوونکي او ترلاسه کوونکي نوم، آدرس او تشخیصیه نمبر.

۳- د کرېدت نوټ واحده پرله پسې ګڼه او د صادرېدو نېټه.

۴- د کرېدت نوټ د صادرېدو علت د مالیې د تابع عرضې د تثبیت په منظور، د معلوماتو په شمول چې کرېدت نوټ له هغو سره ارتباط مومي.

۵- په صورت حساب کې د درج شوې عرضې بیه، د عرضې واقعي بیه، د دوو یادو شوو عرضو ترمنځ تفاوت او پر زیاتي ارزښت د مالیې مبلغ چې لدې تفاوت سره ارتباط مومي.

دریافت کننده عرضه، صادر می گردد.

(۴) کریدت نوت دارای مشخصات ذیل می باشد:

۱- نام (کریدت نوت مالیه بر ارزش افزوده) در قسمت بالایی آن.

۲- نام، آدرس و نمبر تشخیصیهٔ عرضه کننده و دریافت کننده.

۳- شمارهٔ مسلسل واحد و تاریخ صدور کریدت نوت.

۴- علت صدور کریدت نوت، بشمول معلومات به منظور تثبیت عرضهٔ تابع مالیه که کریدت نوت به آن ارتباط می گیرد.

۵- قیمت عرضهٔمندرج صورت حساب، قیمت واقعی عرضه، تفاوت بین دو قیمت متذکره و مبلغ مالیه بر ارزش افزوده که به این تفاوت ارتباط می گیرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر زياتي ارزښت د ماليې د سندونو ساتل

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) ثبت شـوی شـخص د لانـدې سندونو په ساتلو مکلف دی:

۱- د صورت حساب اصلي نسخه، کرېډت نوټ او ترلاسه شوي د بت نوټونه.

۲- د صورت حساب نقل او د وخت په ترتيب صادرشوي کرېډت نـوټ او دبت نوټونه.

۳- د اړوندو اجناسـو د وارداتـو او صادراتو ګمرکي سندونه.

(۲) کـه چېرې ماليه ورکوونکی پر زياتي ارزښت د ماليې صورت حساب، کرېډت نوټ يا د بت نوټ په لاس کې ونلري، کولای شي نوموړي سندونه په ليکلې توګه له عرضه کوونکي څخـه وغواړي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی غوښتنليک، د صورت حساب په مورد کې د عرضې له نېټې او د کرېډت

## نگهداری اسناد ماليه بـرارزش افزوده

**مادۀ بيست ودوم:**

(۱) شخص ثبت شـده مکلـف بـه نگهداری اسناد ذيل می باشد:

۱- نسخۀ اصلی صـورت حسـاب، کريدت نوت و دبت نـوت هـای دريافت شده.

۲- نقل صورت حساب، کريدت نوت و دبت نوت های صادر شده به ترتيب زمان.

۳- اسناد گمرکی واردات و صادرات اجناس مربوط.

(۲) هرگاه ماليـه دهنـده، صـورت حساب، کريدت نوت يا دبت نـوت ماليه بر ارزش افـزوده را بدسـترس نداشته باشد، می تواند اسناد مذکور را طور کتبی از عرضه کننده درخواست نمايد.

(۳) ارايۀ درخواست مندرج فقرۀ (۲) اين ماده، در مورد صورت حساب از تاريخ عرضه ودر مورد کريدت نوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوټ او د بت نوټ په هکله د تصحيح له نېټې څخه د (٦٠) ورځو مودې پــه ترڅ کې صورت مومي.

(۴) عرضه کوونکی مکلــف دی، د غوښتنليک د ترلاسه کولو له نېټې څخه د (۱۵) ورځو مودې په ترڅ کې،ددې مادې په (۲) فقره کــې درج شــوي سندونه، غوښتنليک ورکــوونکي تــه وړاندې کړي.

(۵) که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوي سندونه تلف يــا ورک شوي وي، عرضه کــوونکی د هغــو تصــديق شــوی نقــل غوښــتنليک ورکوونکي ته وړاندې کوي.

(٦) ثبت شوی شخص يوازې کولای شي پر زياتي ارزښت د ماليې صــورت حساب، کرېدت نوټ يا د بت نــوټ پدې ماده او ددې قانون په شــلمه او يوويشتمه مــاده کــې د درج شــوو حکمونو مطابق صادر کړي.

يا دبت نوت از تــاريخ تصــحيح، در خــلال مــدت(٦٠) روز صــورت می گيرد.

(۴) عرضه کننــده مکلــف اســت، درخــــــلال مــــــدت (۱۵) روز ازتاريخ دريافت درخواســت، اســناد منــدرج فقــرۀ (۲) ايــن مــاده را بــه درخواســت دهنــده ارايــه نمايد.

(۵) هرگاه اسناد مندرج فقرۀ (۲) اين ماده تلف يا مفقود شده باشد، عرضه کننده نقل تصــديق شــدۀ آن را بــه درخواســـت دهنــــده، ارايـــه می نمايد.

(٦) شخص ثبت شده صرف ميتوانــد صورت حساب، کريدت نوت يا دبت نوت ماليه بر ارزش افزوده را مطــابق احکام منــدرج ايــن مــاده ومــواد بيستم وبيست ويکم اين قانون صــادر نمايد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم فصل

## اظهارليک او پر زياتي ارزښت د ماليې ورکړه

**پر زياتي ارزښت د ماليې اظهارليک**

**درويشتمه ماده:**

(۱) ماليه ورکوونکی مکلف دی، پر زياتي ارزښت د ماليې د هرې دورې لپاره په منظوره شوې فورمه کې بشپړ مالياتي اظهارليک، د هماغې دورې له پايته رسېدو وروسته د (۳۰) ورځو موده په ترڅ کې د ماليې وزارت ته وړاندې کړي.

(۲) د ماليې وزارت کولای شي، په اظهارليک کې د نيمګړتياوو د شتون په صورت کې له ماليه ورکوونکي يا د هغهٔ له نماينده څخه د هغو د بشپړولو يا د زياتو معلوماتو د لاسته راوړلو غوښتنه وکړي.

**پر زياتي ارزښت د ماليې ورکړه**

**څلېرويشتمه ماده:**

(۱) ماليه ورکوونکی مکلف دی، پر

## فصل هفتم

## اظهار نامه وپرداخت ماليه بر ارزش افزوده

**اظهارنامهٔ ماليه بر ارزش افزوده**

**مادهٔ بيست وسوم:**

(۱) ماليه دهنده مکلف است، برای هر دوره ماليه بر ارزش افزوده، اظهارنامهٔ مکمل مالياتی رادرفورمهٔ منظور شده در خلال مدت (۳۰) روز بعد از ختم همان دوره به وزارت ماليه ارايه نمايد.

(۲) وزارت ماليه می تواند، درصورت موجوديت نواقص دراظهارنامه، تقاضای تکميل آنرا يا کسب معلومات بيشتر از ماليه دهنده يا نمايندهٔ وی، نمايد.

**پرداخت ماليه بر ارزش افزوده**

**مادهٔ بيست وچهارم:**

(۱) ماليه دهنده مکلف است، ماليه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياتي ارزښت ماليه ددې قانون د اتلسمې مادې د حکم مطابق محاسبه او ددې قانون د درويشتمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې مودې تر پايته رسېدو پورې ورکړي.

(۲) واردوونکی مکلف دی، پر زياتي ارزښت ماليه د اجناسو د وارداتو په وخت کې ورکړي.

(۳) پر زياتي ارزښت ماليه او د هغې د ځنډولو جريمې ، د ورکړې له ټاکلې نېټې څخه د (۵) کلونو مودې له تېرېدو وروسته، د تحصيل وړ نه ده.

(۴) پر زياتي ارزښت د ماليې او د هغې د جريمو د تحصيل موده، د ورکړې له ټاکلې مودې څخه په لاندې حالاتو کې لس کاله ده:

۱- په هغهٔ صورت کې چې شخص پر زياتي ارزښت د ماليې اظهارليک وړاندې کړی نه وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د ماليې وزارت د نه ورکړل شوې ماليې مبلغ، په ليکلې توګه غوښتی وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د ماليې نه

برارزش افزوده را طبق حکم مادهٔ هجدهم این قانون محاسبه والی ختم معیاد مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ بیست وسوم این قانون، بپردازد.

(۲) وارد کننده مکلف است، مالیهٔ بر ارزش افزوده را در زمان واردات اجناس بپردازد.

(۳) مالیه بر ارزش افزوده وجرایم تأخیر آن بعد از سپری شدن مدت (۵) سال از تاریخ معینهٔ پرداخت، قابل تحصیل نمی باشد.

(۴) مدت تحصیل مالیه بر ارزش افزوده وجرایم آن ازتاریخ معینهٔ پرداخت درحالات ذیل ده سال می باشد:

۱- درصورتی که شخص اظهارنامهٔ مالیه بر ارزش افزوده را ارایه ننموده باشد.

۲- در صورتی که وزارت مالیه پرداخت مبلغ مالیهٔ تأدیه ناشده را، طور کتبی مطالبه نموده باشد.

۳- در صورتی که عدم پرداخت مالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړه د تزویر یا غفلت له امله وي.

**پر زیاتي ارزښت د مالیې بېرته ورکړې**

**پنځه ویشتمه ماده:**

(۱) که چېرې پر زیاتي ارزښت د مالیې د هرې دورې لپاره د مجرایي وړ مالیه د مالیې ورکوونکي د ورکړې وړ مالیې له مجموع څخه زیاته شي، پدې هکله په لاندې توګه اجراآت صورت مومي:

۱- د مالیې اضافي مبلغ، پر زیاتي ارزښت د مالیې را وروسته دورې ته لېږدېږي او مجراء ورکول کېږي. که چېرې په یاده دوره کې مجراء نشي د هغې د زیاتي ارزښت د مالیې وروستۍ دورې ته لېږدېږي.

۲- که چېرې ددې فقرې په (۱) جزء کې په درج شوي حالت کې مجرایي صورت ونه مونډلای شي، د مالیې اضافي مبلغ د مالیې ورکوونکي د لیکلي غوښتنلیک او د سندونو د وړاندې کولو له مخې د غوښتنلیک د وړاندې کولو له نېټې څخه د (۴۵)

از اثر تزویر یا غفلت بوده باشد.

**باز پرداخت های مالیه برارزش افزوده**

**مادۀ بیست وپنجم:**

(۱) هرگاه مالیۀ قابل مجرائی برای هر دورۀ مالیه بر ارزش افزوده از مجموع مالیۀ قابل پرداخت مالیه دهنده بیشتر گردد، درمورد طورذیل اجراآت صورت می گیرد:

۱- مبلغ اضافی مالیه به دورۀ بعدی مالیه بر ارزش افزوده انتقال و مجراء داده می شود. هر گاه در دورۀ متذکره مجراء شده نتواند، به دورۀ مالیه برارزش افزوده بعدی آن انتقال می یابد.

۲- هر گاه درحالت مندرج جزء (۱) این فقره مجرایی صورت گرفته نتواند، مبلغ اضافی مالیه به اثردرخواست کتبی مالیه دهنده و ارایۀ اسناد در خلال مدت (۴۵) روز از تاریخ دریافت درخواست، از طرف وزارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځو موده په ترڅ کې د مالیې وزارت لخوا هغهٔ ته بېرته ورکول کېږي.

(۲) که چېرې د لېږد وړ اضافي مجرایي وړ مالیه د مالیې له یوې دورې څخه زیاته شتون ولري، د لومړنۍ دورې اضافي مالیه په لومړي قدم کې مجراء ورکول کېږي.

(۳) که چېرې د اقتصادي فعالیت معمولي بهیر داسې وي چې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې مجرایي تطبیق نشي، د مالیې وزارت د شخص د لیکلې غوښتنې له مخې، د مجرایي وړ مبلغ، د اظهارلیک د وړاندې کولو له نېټې څخه د (۴۵) ورځو موده په ترڅ کې، بېرته ورکوي.

(۴) که چېرې مالیه ورکوونکی اشتباهاً پر زیاتې ارزښت د مالیې په یوه دوره کې، مالیه اضافه ورکړې وي، کولای شي، د اضافه ورکړې له نېټې څخه د (۵) کلونو موده په ترڅ کې د هغې مجرایي له مالیې وزارت څخه وغواړي، پدې صورت کې اضافه ورکړې مبلغ پر زیاتې ارزښت د مالیې په هغه، دوره

مالیه به وی بازپرداخت می گردد.

(۲) هرگاه مالیهٔ قابل مجرائی اضافی قابل انتقال برای بیشتر از یک دورهٔ مالیه وجود داشته باشد، مالیهٔ اضافی اولین دوره در قدم نخست مجراء داده می شود.

(۳) هرگاه روند معمولی فعالیت اقتصادی طوری باشد که مجرائی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده تطبیق شده نتواند، وزارت مالیه به اثر درخواست کتبی شخص، مبلغ قابل مجرائی را در خلال مدت ( ۴۵) روز از تاریخ ارایهٔ اظهارنامه، باز پرداخت می نماید.

(۴)هرگاه مالیه دهنده اشتباهاً در یک دورهٔ مالیه بر ارزش افزوده، مالیه را اضافه پرداخته باشد، می تواند درخلال مدت (۵) سال از تاریخ اضافه پرداخت، مجرائی آن را از وزارت مالیه درخواست نماید. دراین صورت مبلغ اضافه پرداخت، در دورهٔ مالیه بر ارزش افزوده که توسط وزارت مالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې د مالیې وزارت په واسطه ټاکل کېږي، مجراء ورکول کېږي.

## اتم فصل

## پر زیاتي ارزښت د مالیې سنجونه

**د مالیې سنجول**

**شپږویشتمه ماده:**

(۱) د مالیې وزارت کولای شي لــه لاندې حالاتو څخه په یوهٔ کې پر زیاتي ارزښت د ورکړې وړ مالیه وسنجوي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې پر زیاتي ارزښت د مالیې اظهارلیک ددې قانون د حکمونو مطابق وړاندې شوی نه وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د مــالیې وزارت ومومي چې د مالیې ورکوونکي په واسطه د وړاندې شوي اظهارلیــک مندرجات سم(درست) نه وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چــې بېرتــه ورکړې، ددې قانون د پنځه ویشــتمې مادې د حکم مطابق صورت مونــدلی، خو شخص د هغې مستحق نه وي.

(۲) د مالیې وزارت، پر زیاتي ارزښت

تعیـــین مـــی گـــردد، مجـــراء داده می شود.

## فصل هشتم

## سنجش مالیه بر ارزش افزوده

**سنجش مالیه**

**مادهٔ بیست و ششم:**

(۱) وزارت مالیه می تواند دریکی از حالات ذیل، مالیه بر ارزش افزوده قابل پرداخت را سنجش نماید:

۱- درصورتیکه اظهارنامهٔ مالیــه بــر ارزش افزوده، طبق حکم این قــانون ارایه نشده باشد.

۲- در صورتی که وزارت مالیه دریابد که مندرجات اظهار نامهٔ ارایــه شــده توسط مالیه دهنده، درســت نبــوده است.

۳- در صورتی که باز پرداخت طبــق حکم مادهٔ بیست وپنجم ایــن قــانون صورت گرفته، ولی شخص مستحق آن نباشد.

(۲) وزارت مالیه،یادداشت تعیین مالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماليې د ټاکلو يادداښت چې لانــدې موارد پکې شامل دي، ماليه ورکوونکي ته وړاندې کوي:

۱- ددې مادې په (۱) فقــره کــې د سنجش درج شوي دلايل.

۲- د ماليې، ټکتانې او ورکـــړې وړ جريمې اندازه، د هغو د ورکړې د نېټې په يادولو سره.

(۳) پر زياتي ارزښت د ماليې سنجول شوې ټکتانه او جريمه په لانــدې ډول محاسبه کېږي:

۱- ددې مــادې د (۱) فقــرې پــه (۱ يا ۲) جزءکې په درج شوي حالت کې، ددې قانون په څلېريشتمه ماده کې درج شوي ميعاد ته په پام سره.

۲- ددې مادې د (۱) فقرې پــه (۳) جزء کې په درج شوي حالت کــې، د بېرته ورکړې له نېټې څخه.

(۴) د ماليې وزارت کولای شي، په هغهٔ صورت کې چې نــوي ســندونه يــا معلومات د هغو په واک کې راشــي، ددې مادې په (۲) فقره کې پــه درج شوي سنجش کې تعــديلات د مــاليې

برارزش افزوده راکه شامل موارد ذيل مـــی باشـــد،به ماليـــه دهنـــده ارايه می نمايد:

۱- دلايل سنجش مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده.

۲- اندازهٔ ماليه، تکتانه و جريمهٔ قابل پرداخـــت بـــا ذکـــر تـــاريخ پرداخت آن.

(۳) تکتانه و جريمهٔ ماليه بـــر ارزش افزوده سنجش شده طور ذيل محاسبه می گردد:

۱- درحالت مندرج اجزای (۱ يا ۲) فقرهٔ (۱) اين ماده، بـــا نظرداشـــت ميعاد مندرج مادهٔ بيســـت وچهـــارم اين قانون.

۲- درحالت مـــــــندرج جزء (۳) فقـــرهٔ (۱) ايـــن مـــاده، از تـــاريخ بازپرداخت.

(۴) وزارت ماليـــه مـــی توانـــد، در صورتی که اسناد يا معلومات جديد در اختيار آن قرار گيرد، تعـــديلات را در ســـنجش منـــدرج فقـــرهٔ (۲) ايـــن ماده، در خلال مدت (۱۰) ســـال از

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوونکي په واسطه د ماليې د ټاکلو د یاددښت د ترلاسه کولو له نېټې څخه د (۱۰) کلونو مودې په ترڅ کې وارد او د ماليې د سنجش تعديل شوی یاددښت هغهٔ ته صادر کړي.

(۵) د ماليې د ټاکلو پر یاددښت د اعتراض ډول، د مالیاتو د چارو د ادارې د قانون د حکمونو مطابق صورت مومي.

## ترلاسه کوونکي ته پر زیاتي ارزښت د ماليې سنجول

**اووه ويشتمه ماده:**

(۱) که چېرې د ترلاسه کوونکي د ناسمو معلوماتودوړاندې کولو یا تزویر له امله عرضه کوونکي، عرضه ددې قانون د پنځمې مادې د حکم مطابق معاف یا ددې قانون د شپږمې مادې د حکم مطابق د صفر نورم لرونکې تلقي کړې وي، د ماليې وزارت کولای شي د نوموړې عرضې پر زیاتي ارزښت ، د ټکتانې او د هغې د ځنډونې د جريمې په شمول د ورکړې وړ ماليه و ټاکي.

تاریخ دریافت یادداشت تعیین مالیه توسط مالیه دهنده، وارد و یادداشت تعدیل شدهٔ سنجش مالیه را به وی صادر نماید.

(۵) طرز اعتراض بریادداشت تعیین مالیه مطابق احکام قانون ادارهٔ امور مالیات صورت می گیرد.

## سنجش مالیه برارزش افزوده به دریافت کننده

**مادهٔ بیست وهفتم:**

(۱) هرگاه به اثر ارایهٔ معلومات نادرست یا تزویر دریافت کننده، عرضه کننده، عرضه راطبق حکم مادهٔ پنجم این قانون معاف یا طبق حکم مادهٔ ششم آن دارای نورم صفر تلقی نموده باشد، وزارت مالیه می تواند مالیه بر ارزش افزوده قابل پرداخت عرضه متذکره رابشمول تکتانه و جریمه تأخیرآن، تعیین نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د ماليې وزارت، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې ماليې د ټاکلو يادډښت چې د لاندې مواردو لرونکی وي ترلاسه کوونکي ته په ليکلې توګه صادروي:

۱- ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې ماليې د ټاکلو دليل.

۲- د ماليې، ټکتانې او ورکړې وړ جريمې اندازه، د هغو د ورکړې د ټاکلې نېټې په يادولو سره.

۳- د ماليې د ټاکلو پر يادډښت د اعتراض ډول دماليې دچارو د ادارې د قانون د حکمونو مطابق.

(۳) عرضه کوونکی او ترلاسه کوونکی له احوالو سره سم، په انفرادي يا مشترک ډول، ددې مادې په (۱) فقره کې درج پر زياتي ارزښت د ماليې په ورکړې مکلف دي.

(۲) وزارت ماليه، يادداشت تعيين ماليهٔ مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده را که حاوی موارد ذيل می باشد، به دريافت کننده طور کتبی صادر می نمايد:

۱- دليل تعيين ماليهٔ مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده.

۲- اندازهٔ ماليه، تکتانه وجريمهٔ قابل پرداخت باذکر تاريخ معينهٔ پرداخت آن.

۳- طرز اعتراض بريادداشت تعيين ماليه مطابق احکام قانون ادارهٔ امور ماليات.

(۳) عرضه کننده و دريافت کننده حسب احوال طور انفرادی يا مشترک مکلف به تأديه ماليه بر ارزش افزوده مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، می باشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم فصل
## متفرقه حکمونه

**د تضمین اخیستل**

**اته ویشتمه ماده:**

د مالیې وزارت کولای شي پر زیاتي ارزښت د مالیې له ورکړې څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په منظور، د مالیې تابع شخص د مالیاتو د چارو د ادارې د قانون د حکمونو مطابق د ورکړې وړ مالیې د مبلغ د معادل تضمین په وړاندې کولو مکلف کړي.

**د اجناسو ضبط**

**نهه ویشتمه ماده:**

که چېرې مالیه ورکوونکی، پر زیاتي ارزښت د خپل ذمت مالیه په ټاکلي میعاد ورنکړي، د مالیې وزارت کولای شي، د هغهٔ د نه ورکړل شوې مالیې معادل اجناس د مالیاتو د چارو د ادارې د قانون د حکمونو مطابق ضبط کړي.

## فصل نهم
## احکام متفرقه

**اخذ تضمین**

**مادهٔ بیست وهشتم:**

وزارت مالیه می تواند، به منظور حصول اطمینان از پرداخت مالیه بر ارزش افزوده، شخص تابع مالیه را مطابق احکام قانون ادارهٔ امور مالیات، مکلف به ارایهٔ تضمین معادل مبلغ مالیهٔ قابل پرداخت نماید.

**ضبط اجناس**

**مادهٔ بیست ونهم:**

هرگاه مالیه دهنده، مالیه بر ارزش افزوده ذمت خویش رادرمیعاد معینه تأدیه ننماید، وزارت مالیه می تواند، اجناس معادل مالیهٔ پرداخت ناشدهٔ وی را مطابق احکام قانون ادارهٔ امور مالیات ضبط نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نمايندګۍ او برخې(بخشونه)

**دېرشمه ماده:**

که چېرې د ماليې ورکوونکي په واسطه اقتصادي فعاليت د نمايندګۍ يا برخو په ډول پر مخ بوتلل شي، د واحد اقتصادي فعاليت په توګه ګڼل کېږي او د هغهٔ په نوم ثبتېږي.

## د ګمرک د کارکوونکو واکونه

**يو دېرشمه ماده:**

د ګمرکونو کارکوونکي پر زياتي ارزښت د ماليې په هکله د ګمرکونو په قانون کې درج شوي واکونه چې ددې قانون د حکمونو مطابق د اجناسو پر وارداتو وضع کېږي، اعمالوي.

## اسعار

**دوه دېرشمه ماده:**

(۱) پر زياتي ارزښت د ماليې سنجش په افغاني پيسو صورت مومي.

(۲) پر زياتي ارزښت د ماليې د سنجش په منظور دبهرنيو اسعارو تسعير د قانون د حکمونو مطابق په لاندې ډول صورت مومي:

## نمایندگی ها وبخش ها

**مادهٔ سی ام:**

هرگاه فعالیت اقتصادی توسط مالیه دهنده به شکل نمایندگی یا بخش ها پیش برده شود، بحیث فعالیت اقتصادی واحد پنداشته شده و بنام وی ثبت می گردد.

## صلاحیت های کارکنان گمرک

**مادهٔ سی ویکم:**

کارکنان گمرکات صلاحیت های مندرج قانون گمرکات را درمورد مالیه بر ارزش افزوده که مطابق احکام این قانون بالای واردات اجناس، وضع می گردد، اعمال می نمایند.

## اسعار

**مادهٔ سی ودوم:**

(۱) سنجش مالیه بر ارزش افزوده به پول افغانی صورت می گیرد.

(۲) تسعیراسعارخارجی به منظور سنجش مالیه بر ارزش افزوده مطابق احکام قانون طور ذیل صورت می گیرد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د اجناسو په وارداتو کې د ورکړې وړ گمرکي محصول دسنجش په منظور د گمرکونو د قانون د حکمونو مطابق د تطبیق وړ تبادلې د نرخ پربنسټ.

۲- په نورو مواردو کې، د معاملې په ورځ دپیر(خرید) پربنسټ، د دافغانستان بانک د آزادې تبادلې د نرخ اوسط.

## انتقالي حکمونه

**دري دېرشمه ماده:**

(۱) ددې قانون له انفاذ وروسته، ثبت شوی شخص په لاندې حالاتو کې کولای شي د ورکړل شوو انتفاعي معاملو د مالیې له درکه د مجرایي وړ مالیه، پر زیاتي ارزښت د مالیې په اوله دوره کې وغواړي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د کاري اخري ورځې په پای کې یې پر زیاتي ارزښت د مالیې د لومړنۍ دورې له پیل څخه دمخه اجناس په گدام کې ساتلي وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې پر زیاتي ارزښت د مالیې د لومړنۍ دورې له پیل

۱- در واردات اجناس، به اساس نرخ تبادلهٔ قابل تطبیق مطابق احکام قانون گمرکات به منظور سنجش محصول گمرکی قابل پرداخت.

۲- درسایر موارد، اوسط نرخ تبادلهٔ آزاد دافغانستان بانک به اساس خرید، در روز معامله.

## احکام انتقالی

**مادهٔ سی وسوم:**

(۱) بعد از انفاذ این قانون، شخص ثبت شده در حالات ذیل می تواند، مالیهٔ قابل مجرائی از درک مالیهٔ معاملات انتفاعی پرداخت شده را، در دورهٔ اول مالیه بر ارزش افزوده مطالبه نماید:

۱- درصورتی که در ختم آخرین روز کاری، قبل از شروع اولین دورهٔ مالیه بر ارزش افزوده، اجناس را درگدام نگهداری نموده باشد.

۲- درصورتی که اجناس را بیشتر از چهار ماه، قبل از آغاز اولین دورهٔ مالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه څلور میاشتې دمخه یې اجنــاس ترلاسه کړي نه وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې په ګـــدام کې دموجودواجناسو د انتفاعي معاملو دمالیې د ورکړې سندونه یې د مـــالیې وزارت ته وړاندې کړي وي.

(۲)که چېرې ددې قانون لــه انفــاذ وروسته، د اجناسو په ترلاسه کولو کې د عرضې یا وارداتو د زیاتي ارزښت پر وضع شوې مالیه، د مجرایي وړ مالیې بشپړ شرایط ددې قـــانون د نولســـمې مادې د حکمونو مطابق تکمیل نکړي. په دې صورت کې ددې مـــادې د (۱) فقرې د حکم مطابق، د نوموړو اجناسو د ترلاسه کولو په ارتباط د ورکړل شوو انتفاعي معاملو د مالیې لـــه درکـــه د مجرایي وړ مالیه مجاز کېدای نشي.

(۳) هغه شخص چې ددې مادې د (۱) فقرې د حکم مطابق، د مجرایـــي وړ مالیه غواړي، مکلف دی په ګدام کې د موجود اجناسو فهرست او پر زیـــاتي ارزښـــت د خپلـــې مـــالیې لـــومړنی اظهارلیک، د نوموړو اجناسو د انتفاعي

بر ارزش افـــزوده حاصـــل ننمـــوده باشد.

۳- درصورتی که اسناد پرداخت مالیهٔ معاملات انتفـــاعی اجنـــاس موجـــود گدام را به وزارت مالیه ارایه نمـــوده بتواند.

(۲) هرگاه بعد از انفاذ ایـــن قـــانون، مالیه بر ارزش افـــزوده وضـــع شـــدهٔ عرضـــه یا واردات درحصـــول اجناس شرایط کامل مالیهٔ قابـــل مجرائـــی را مطابق احکام مادهٔ نزدهم این قـــانون تکمیل ننماید، دراین صورت مطـــابق حکم فقرهٔ (۱) این مادهٔ مالیه قابـــل مجرائـــی ازدرک مالیـــهٔ معـــاملات انتفاعی پرداخت شده در ارتباط بـــه حصول اجناس متـــذکره، مجـــازبوده نمی تواند.

(۳) شخصی که طبق حکم فقـــرهٔ (۱) این ماده، مالیهٔ قابل مجرائی را مطالبه می نماید، مکلف است فهرست اجناس موجودگدام و اولین اظهار نامهٔ مالیه بر ارزش افزوده خـــویش را بـــا اســـناد پرداخت مالیهٔ معاملات انتفاعی اجناس

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاملو د ماليې د ورکړې له سندونو سره، د ماليې وزارت ته وړاندې کړي.

(۴) که چېرې ثبت شوی شخص ددې قانون له انفاذ څخه دمخه پر زياتي ارزښت د ماليې له په پام کې نيولو پرته، قرارداد عقد کړی وي، ددې قانون په نافذېدو سره پر زياتي ارزښت ماليه د ثبت له نېټې څخه پر قرارداد باندې د تطبيق وړ ده.

(۵) ددې قانون په نافذېدو سره د ۱۳۸۷ کال په (۹۷٦) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوي پر عايداتو د مالياتو د قانون دڅلور شپېتمې مادې (۱، ۵ او ٦) فقرې، پنځه شپېتمه ماده، د شپږشپېتمې مادې (۲، ۳ ، ۴ او ٦) فقرې او اووه شپېتمه ماده او د ۱۳۹۲ کال په (۱۱۰۳) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د څلورشپېتمې مادې د (۲) فقرې تعديل، د شپږشپېتمې مادې د (۱ او ۵) فقرو تعديل او د هغې د (٦) فقرې ايزاد پر زياتي ارزښت د ماليې پر ثبت شوي شخص د تطبيق وړ نه دي.

متذکره، به وزارت ماليه ارايه نمايد.

(۴) هرگاه شخص ثبت شده، قبل از انفاذ اين قانون، قرارداد را بدون نظر داشت ماليه بر ارزش افزوده عقد نموده باشد، ماليه بر ارزش افزوده با انفاذ اين قانون از تاريخ ثبت، بالای قرارداد، قابل تطبيق می باشد.

(۵) با انفاذ اين قانون، فقره های (۱، ۵ و ٦ )مادۀ شصت و چهارم، مادۀشصت و پنجم، فقره های (۲،۳،۴و٦) مادۀ شصت و ششم ومادۀ شصت و هفتم قانون ماليات برعايدات منتشره جريدۀ رسمی شماره (۹۷٦)سال ۱۳۸۷و تعديل فقرۀ(۲) مادۀ شصت وچهارم، تعديل فقره های (۱ و۵) مادۀ شصت و ششم وايزاد فقرۀ(٦) آن منتشره جريدۀ رسمی (۱۱۰۳) سال ۱۳۹۲ بالای شخص ثبت شده ماليه بر ارزش افزوده قابل تطبيق نمی باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مقررې او کړنلارو وضع

**څلور دېرشمه ماده:**

د ماليې وزارت کــولای شــي، ددې قانون د ښــه تطبيــق پــه منظــور، مقررې وړانديز، کړنلارې او تعليماتنامې چې ددې قانون د حکمونو مغايرې نــه وي، وضع کړي.

## د انفاذ نېټه

**پنځه دېرشمه ماده:**

(۱) دغـــــه قانون د ۱۳۹۵ کال د مرغومي د مياشتې له پيل څخه د تطبيق وړ دی.

(۲) ددې قانون په نافذېــدو ســره د ۱۳۸۷ کال په (۹۷٦) گڼه رســمي جريده کې خپور شوی پر عايــداتو د مالياتو د قانون د څلورشپېتمې مــادې (۳ او ۴) فقــرې او د اووه شــپېتمې مادې (۳) فقره ملغي گڼل کېږي.

## وضع مقرره وطرزالعمل ها

**مادهٔ سی وچهارم:**

وزارت ماليه می تواند، به منظور تطبيق بهتر احکام اين قانون، مقــرره هــا را پيشنهاد، طرزالعمل هــا و تعليمــات نامه ها را که مغاير احکام اين قــانون نباشد، وضع نمايد.

## تاريخ انفاذ

**مادهٔ سی وپنجم:**

(۱) اين قانون از آغــاز مــاه جــدی ســـــال ۱۳۹۵ قابـــــل تطبيـــــق می باشد.

(۲) با انفاذ اين قانون، فقــره هــای (۳و۴) مادهٔ شصت وچهارم و فقــرهٔ (۳) مادهٔ شصت و هفتم قانون ماليات برعايدات منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۹۷٦) سال ۱۳۸۷ ملغــی شــمرده می شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ملکي خدمتونو د کارکوونکود قانون د ځينو مادو د تعديل د طرحې په اړه د ملي شوري د مجلسينو د مصوبو د توشېح په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس**

**فرمان**

**ګڼه: (٦)**

**نېټه: ۱۰/ ۱/ ۱۳۹۵**

**د عدليې محترم وزارت ته!**

**لومړۍ ماده:**

**د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د (۱٦) جزء او د (۹۴) مادې د (۱) فقرې د حکمونو له مخې، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د ځينو مادو د تعديل د طرحې په اړه د ملي شوري د ولسي جرګې د ۱۲/ ۱۰/ ۱۳۹۴ نېټې (۱۸۵) ګڼه مصوبه او د مشرانو جرګې د ۲۹/ ۱۰/ ۱۳۹۴ نېټې (۱۷۹) ګڼه مصوبه، توشېح کوم.**

**فرمان**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح مصوبات مجلسين شورای ملی پيرامون طرح تعديل برخی از مواد قانون کار کنان خدمات ملکی**

**شماره: (٦)**

**تاريخ: ۱۳۹۵/۱/۱۰**

**به وزارت محترم عدليه!**

**مادۀ اول:**

**به تأسی از احکام جزء (۱٦) مادۀ (۶۴) و فقرۀ (۱) مادۀ (۹۴) قانون اساسی افغانستان، مصوبۀ شماره (۱۸۵) مؤرخ ۱۳۹۴/۱۰/۱۲ ولسی جرگه و مصوبۀ شماره (۱۷۹) مؤرخ ۱۳۹۴/۱۰/۲۹ مشرانو جرگه شورای ملی را در مورد طرح تعديل برخی از مواد قانون کارکنان خدمات ملکی توشيح می دارم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه یمه ماده:

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ، د ملي شوري د مجلسینو له مصوبو او د یادشوي قانون د تعدیلونو له متن سره یوځای دې، په رسمي جریده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس

مادهٔ دوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ، همراه با مصوبات مجلسین شورای ملی و متن تعدیلات قانون متذکره، در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**ولسي جرګه**

**د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د ځینو مادو د تعدیل دطرحې مصوبه**

ګڼه: (۱۸۵)

نېټه: ۱۲/ ۱۰/ ۱۳۹۴

د افغانستان د اساسي قانون د نوي یمې مادې د درج شوي حکم له مخې، ولسي جرګې د خپلې د۱۲/ ۱۰/ ۱۳۹۴ نېټې د شنبې ورځې په عمومي غونډه کې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د ځینو مادو د تعدیل په اړوند، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس د ۱۵/ ٦/ ۱۳۹۴نېټې (۸۲) ګڼه تقنیني فرمان په مجلس کې د حاضرو رأیو په اکثریت سره، تصویب کړ.

الحاج عبدالرووف ابراهیمي

د ولسي جرګې رئیس

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**ولسی جرگه**

**مصوبه**

**طرح تعدیل برخی از مواد قانون کارکنان خدمات ملکی**

شماره: (۱۸۵)

تاریخ: ۱۳۹۴/۱۰/۱۲

ولسی جرگه به تأسی از حکم مندرج مادهٔ نودم قانون اساسی افغانستان در جلسهٔ عمومی روز شنبه مؤرخ ۱۳۹۴/۱۰/۱۲ خویش فرمان تقنینی شماره (۸۲) مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۱۵ رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در رابطه به تعدیل برخی از مواد قانون کارکنان خدمات ملکی را با اکثریت آرای حاضر در مجلس تصویب نمود.

الحاج عبدالرووف ابراهیمی

رئیس ولسی جرگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان اسلامي جمهوري دولت
ملي شوري
مشرانو جرگه
د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس د ۱۵/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې د (۸۲) گڼې تقنينی فرمان د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د ځينو مادو د تعديل په هکله
مصوبه

گڼه: (۱۷۹)
نېټه: ۲۹/ ۱۰/ ۱۳۹۴

د افغانستان د اساسي قانون د نوي يمې مادې د حکم له مخې، مشرانو جرگې د ۲۹/ ۱۰/ ۱۳۹۴ نېټې د سه شنبې ورځې په عمومي غونډه کې، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د ځينو مادو د تعديل په اړه، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس د ۱۵/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې (۸۲) گڼه تقنيني فرمان د رأيو په اتفاق سره تصويب کړ.

الحاج محمد علم ايزديار
د مشرانو جرگې لومړی نايب

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
شورای ملی
مشرانو جرگه
مصوبه
فرمان تقنینی شماره (۸۲) مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۱۵ رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تعدیل برخی از مواد قانون کارکنان خدمات ملکی

شماره: (۱۷۹)
تاریخ: ۱۳۹۴/۱۰/۲۹

مشرانو جرگه به تأسی از حکم مادهٔ نودم قانون اساسی افغانستان، در جلسهٔ عمومی روز سه شنبه مؤرخ ۱۳۹۴/۱۰/۲۹، فرمان تقنینی شماره (۸۲) مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۱۵ رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تعدیل برخی از مواد قانون کارکنان خدمات ملکی را به اتفاق آراء تصویب نمود.

الحاج محمد علم ایزد یار
نایب اول مشرانو جرگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د ځینو مادو تعدیل

لومړۍ ماده:

د ۱۶/ ۴/ ۱۳۸۷ نېټې په (۹۵۱) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي دملکي خدمتونو دکارکوونکو د قانون د لسمې مادې د (۳) فقرې (۱) جزء، یوولسمه ماده او د اته ویشتمې مادې د (۱) فقرې (۲) جزء دې په لاندې متن تعدیل شي:

لسمه ماده:

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي مامور د تقرر منظوري، د لاندې مقاماتو په واسطه صورت مومي:

۱- د لومړي او دوه یم بست مامورین، د وزارت یا اړوندې ادارې د ټاکنو د کمېټې په تشخیص او غوراوي او د وزیر یا عمومي رئیس په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظورۍ.

یوولسمه ماده:

(۱) ددې قانون د لسمې مادې د (۳) فقرې په (۱، ۲ او ۳) اجزاوو کې د

## تعدیل در برخی از مواد قانون کارکنان خدمات ملکی

مادۀ اول:

جزء (۱) فقرۀ (۳) مادۀ دهم، مادۀ یازدهم و جزء (۲) فقرۀ (۱) مادۀ بیست و هشتم قانون کارکنان خدمات ملکی منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۹۵۱) مؤرخ ۱۳۸۷/۴/۱۶ به متن ذیل تعدیل گردد:

مادۀ دهم:

(۳) منظوری تقرر مامور مندرج فقرۀ (۱) این ماده توسط مقامات ذیل صورت می گیرد:

۱- مامورین بست های اول و دوم به تشخیص و انتخاب کمیتۀ تعیینات وزارت یا ادارۀ مربوط به پیشنهاد وزیر یا رئیس عمومی و به منظوری رئیس جمهور.

مادۀ یازدهم:

(۱)نظارت از مراحل تشخیص و پیشنهاد کمیتۀ تعیینات وزارت ها و

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارتونو او دولتـي ادارو د ټاکنو د کميټې د تشخيص او وړانديز له پړاوونو څخه څارنه، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسيون د استازي له خوا صورت مومي.

(۲) د مامورينو او قراردادي کارکوونکو د تشخيص، غوراوي او وړانديز له پړاوونو څخه د څارنې ډول، د جلا کړنلارې مطابق تنظيمېږي.

**اته ويشتمه ماده:**

(۱) د ملکي خدمتونو په اداروکې د مقررۍ داوطلب، مامور او قراردادي کارکوونکی په لاندې مواردو کې د شکايت حق لري:

۲- د وزارتونو او دولتي ادارو د ټاکنو د کميټې له خوا توپيري او غير عادلانه چلند.

**دوه يمه ماده:**

دغه تعديل د توشيح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې، خپور شي.

ادارات دولتی اجزای (۱ ،۲ و۳) فقرهٔ (۳) مادهٔ دهم این قانون از طرف نمایندهٔ کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی صورت می گیرد.

(۲) طرزنظارت از مراحل تشخیص، انتخاب و پیشنهاد تقرر مامورین و کارکنان قراردادی طبق طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

**مادهٔ بیست وهشتم:**

(۱)داو طلب مقرری در ادارات خدمات ملکی، مامور و کارکن قراردادی در موارد آتی حق شکایت را دارند:

۲- برخورد تبعیض آمیز و غیر عادلانه از طرف کمیتهٔ تعیینات وزارت ها و ادارات دولتی.

**مادهٔ دوم:**

این تعدیل از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرعایداتو باندې د مالیاتو د قانون د (۷۴ او ۷۵) مادو د تعدیل په اړه د ملي شورې د مجلسینو د مصوبو د توشیح په هکله، دافغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (۸)

نېټه: ۱۰/ ۱/ ۱۳۹۵

د عدلیې محترم وزارت ته!

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د (۱۶) جزء او د (۹۴) مادې د (۱) فقرې د حکمونو له مخې، پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون د (۷۴ او ۷۵) مادو د تعدیل په اړه د ملي شورې د ولسي جرګې د ۲۸/ ۱۰/ ۱۳۹۴ نېټې (۱۸۴) ګڼه مصوبه او د ۲۹/ ۱۰/ ۱۳۹۴ د مشرانو جرګې نېټې (۱۷۸) ګڼه مصوبه، توشیح کوم.

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح مصوبات مجلسین شورای ملی پیرامون تعدیل مواد (۷۴ و۷۵) قانون مالیات برعایدات

شماره: (۸)

تاریخ: ۱۳۹۵/۱/۱۰

به وزارت محترم عدلیه!

مادهٔ اول:

به تأسی از احکام جزء (۱٦) مادهٔ (٦۴) و فقرهٔ (۱) مادهٔ (۹۴) قانون اساسی افغانستان، مصوبهٔ شماره (۱۸۴) مؤرخ ۱۳۹۴/۱۰/۲۸ ولسی جرگه و مصوبهٔ شماره (۱۷۸) مؤرخ ۱۳۹۴/۱۰/۲۹ مشرانو جرگه شورای ملی را در مورد تعدیل مواد (۷۴و (۷۵) قانون مالیات برعایدات توشیح می دارم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه یمه ماده:**

**دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ، د ملي شوري د مجلسینو له مصوبو او د یادشوي قانون د تعدیلاتو له متن سره یوځای دې، په رسمي جریده کې خپور شي.**

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس**

**مادهٔ دوم:**

**این فرمان از تاریخ توشیح نافذ، همراه با مصوبات مجلسین شورای ملی و متن تعدیلات قانون متذکره، در جریدهٔ رسمی نشر گردد.**

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

ولسي جرگه

پرعايداتو باندې د مالياتو د قانون د (۷۴ او۷۵) مادو دتعديل دطرحې

مصوبه

پرله پسي گڼه: (۱۸۴)

نېټه: ۲۸/ ۱۰/ ۱۳۹۴

ولسي جرگې د افغانستان د اساسي قانون په نوي يمه ماده‌کې له درج شوي حکم سره سم، د ۲۸/ ۱۰/ ۱۳۹۴ نېټې د دوشنبې ورځې په عمومي غونډه کې پر عايداتو باندې د مالياتو د قانون د (۷۴ او ۷۵) مادو د تعديل د بيړنيتوب په اړه د حکومت وړانديز شوې طرحه د حاضرو غړيو په غوڅ اکثريت تصويب کړه.

الحاج عبدالرووف ابراهيمي

د ولسي جرگې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبه

طرح تعدیل در مواد (۷۴ و ۷۵) قانون مالیات برعایدات

شماره مسلسل: (۱۸۴)

تاریخ: ۱۳۹۴/۱۰/۲۸

ولسی جرگه به تأسی از حکم مندرج مادهٔ نودم قانون اساسی افغانستان، در جلسهٔ عمومی روز دوشنبه مؤرخ ۱۳۹۴/۱۰/۲۸خویش طرح پیشنهادی حکومت در رابطه به استعجالیت تعدیل در مواد (۷۴ و ۷۵) قانون مالیات برعایدات را با اکثریت قاطع آرای حاضر در مجلس تصویب نمود.

الحاج عبدالرووف ابراهیمی

رئیس ولسی جرگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

مشرانو جرګه

پرعایداتو باندې د مالیاتو د قانون د (۷۴ او ۷۵) مادو د تعدیل د طرحې په هکله

مصوبه

ګڼه: (۱۷۸)

نېټه: ۲۹/ ۱۰/ ۱۳۹۴

مشرانو جرګې د افغانستان د اساسي قانون د نوي یمې مادې له حکم سره سم، د ۲۹/ ۱۰/ ۱۳۹۴ نېټې د سه شنبې ورځې په عمومي غونډه کې پرعایداتو باندې د مالیاتو د قانون د (۷۴ او۷۵) مادو د تعدیل طرحه د رایو په اتفاق تصویب کړه.

محمد علم ایزدیار

د مشرانو جرګې لومړی نایب

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

مشرانو جرگه

مصوبه

در مورد طرح تعدیل مواد (۷۴ و ۷۵) قانون مالیات برعایدات

شماره: (۱۷۸)

تاریخ: ۱۳۹۴/۱۰/۲۹

به تأسی از حکم مادۀ نودم قانون اساسی افغانستان، مشرانو جرگه در جلسۀ عمومی روز سه شنبه مؤرخ ۱۳۹۴/۱۰/۲۹ طرح تعدیل مواد (۷۴ و ۷۵) قانون مالیات برعایدات را به اتفاق آراء تصویب نمود.

محمد علم ایزدیار

نایب اول مشرانو جرگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرعايداتو باندې د ماليات دقانون د ځينو مادو تعديل

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳۸۷ کال په (۹۷۶) گڼه رسمي جريده کې خپور شوي پر عايداتو باندې د مالياتو د قانون څلور اويايمه او پنځه اويايمه مادې دې، په لاندې متنونو تعديل شي:

**د کوچنيو تشبثاتو (اصنافو) ثابته ماليه**

**۱- څلور اويايمه ماده:**

(۱) هغه حقيقي اشخاص چې په کوچني اقتصادي کار او فعاليتونو بوخت وي او په دې قانون کې د درج شوې موضوعي مالېي د وضعې او معافيت تابع نه وي، ددې قانون په پنځه اويايمه ماده کې د درج شوې ثابتې مالېې په ورکړې مکلف دي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي حقيقي اشخاص، د مالياتي اظهارليک په ډکولو او د دې قانون د

## تعديل برخی از مواد قانون ماليات برعايدات

**مادۀ اول:**

مواد هفتاد وچهارم و هفتاد وپنجم قانون ماليات برعايدات منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۹۷۶) سال ۱۳۸۷ به متون ذيل تعديل گردد:

**ماليۀ ثابت تشبثات کوچک (اصناف)**

**۱- مادۀ هفتاد وچهارم:**

(۱) اشخاص حقيقی که مصروف کار و فعاليت های اقتصادی کوچک بوده و تابع وضع ماليۀ موضوعی و معافيت مندرج اين قانون نباشند، مکلف به پرداخت ماليۀ ثابت مندرج مادۀ هفتاد وپنجم اين قانون می باشند.

(۲) اشخاص حقيقی مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، مکلف به خانه پری اظهارنامۀ مالياتی و ارايه آن

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمونو مطابق د هغۀ په وړاندې کولو مکلف دي.

**پرکوچنيو اقتصادي فعاليتونو (اصنافو) باندې د ثابتو مالياتو تاکل**

**۲- پنځه اويايمه ماده:**

(۱) که چېرې ددې قانون د څلور اويايمې مادې په (۱) فقره کې درج شوي حقيقي اشخاص، د مالي کال په ترڅ کې د ماليې د تابع سرچينو له درکه تريوسلو پنځوسو زرو افغانيو پورې عايد (خرڅلاو) ولري، له ماليې څخه معاف دي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص د دريو کلونو په ترڅ کې له يوسلو پنځوسو زرو افغانيو څخه ترلسو ميليونو افغانيو پورې عايد (خرڅلاو) ولري، ددې ما دې په (۱) فقره کې د درج شوي معافيت له وضع کولو وروسته د کلني خرڅلاو له سرجمع څخه د (۵، ۱) سلنې ثابتې ماليې په ورکړه مکلف دي.

مطابق احکام اين قانون مى باشند.

**تعيين ماليات ثابت بالاى فعاليت هاى اقتصادى کوچک (اصناف)**

**۲- مادۀ هفتاد وپنجم:**

(۱) هرگاه اشخاص حقيقى مندرج فقرۀ (۱) مادۀ هفتاد وچهارم اين قانون، درخلال سال مالى از درک منابع تابع ماليه الى مبلغ يکصد وپنجاه هزار افغانى عايد (فروش) داشته باشند، از ماليه معاف مى باشند.

(۲) هرگاه اشخاص مندرج فقرۀ (۱) اين ماده در خلال سال مالى بيشتر از مبلغ يکصد وپنجا هزار الى ده ميليون افغانى عايد (فروش) داشته باشند، مکلف به پرداخت (۵، ۱) فيصد ماليه ثابت از سر جمع فروشات سالانه بعد از وضع معافيت مندرج فقرۀ (۱) اين ماده مى باشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي حقیقي اشخاص د مالي کال په ترڅ کې له لسو میلیونو افغانیو څخه زیات عاید (خرڅلاو) ولري، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي معافیت له وضع کولو وروسته د خرڅلاو له سر جمع څخه د (۵، ۱) سلنې ثابتې مالیې په ورکړه مکلف دي یا کولای شي ددې قانون د څلورمې مادې د (۳) فقرې د حکم او د څلورشپېتمې مادې د (۲) فقرې د تعدیل د حکم مطابق، مالیه ورکړي.

(۴) که چېرې ددې قانون د څلور اویایمې ما دې په (۱) فقره کې درج شوو حقیقي اشخاصو خپله د ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ مالي کلونو مالیه نه وي ورکړې، د هغوي مالیه ددې مادې د حکمونو مطابق تثبیت او د هغې په ورکړې مکلف دي.

(۵) که چېرې ددې قانون د څلور اویایمې مادې په (۱) فقره کې درج شوي حقیقي اشخاص، د ۱۳۹۳ کال او له هغهٔ څخه د دمخه کلونو د

(۳) هرگاه اشخاص حقیقی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده درخلال سال مالی بیشتر از مبلغ ده میلیون افغانی عاید (فروش) داشته باشند، مکلف به پرداخت (۵، ۱) فیصد مالیه ثابت از سر جمع فروشات بعد از وضع معافیت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده می با شد یا می توانند مطابق حکم فقرهٔ (۳) مادهٔ چهارم و حکم تعدیل فقرهٔ (۲) مادهٔ شصت وچهارم این قانون، مالیه بپردازد.

(۴) هرگاه اشخاص حقیقی مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ هفتاد وچهارم این قانون مالیهٔ سال های مالی ۱۳۹۳ و ۱۳۹۴ خویش را پرداخت ننموده باشند، مالیه آنها مطابق احکام این ماده تثبیت و مکلف به تأدیهٔ آن می باشند.

(۵) هرگاه اشخاص حقیقی مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ هفتاد وچهارم این قانون، مالیه ذمت سال ۱۳۹۳ و سال های ماقبل آنرا الی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذمت ماليه، ددې تعديل له خپرېدو څخه وروسته تر (۹۰) ورځو پورې ورکړي، د اضافي ماليې (جريمې) له ورکړې څخه معاف دي.

(٦) که چېرې په دې ماده کې درج شوي حقيقي اشخاص خپله د ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ کلونو د ذمت ماليه ددې قانون د پنځه اويايمې مادې د (۴) فقرې د حکم مطابق ورکړې وي، ددې مادې د (۲ او۳) فقرو د حکمونو مطابق، بيا سنجش او ورکړل شوي اضافي مبالغ دهغوی د ذمت په وروستيو مالياتو کې مجراء کېږي.

دوه يمه ماده:

دغه تعديل د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي.

(۹۰) روز بعد از نشر این تعدیل تأدیه نمایند، از پرداخت مالیه اضافی (جریمه) معاف می باشند.

(٦) هرگاه اشخاص حقیقی مندرج این ماده مالیه ذمت سال های ۱۳۹۳ و ۱۳۹۴ خویش را مطابق حکم فقرهٔ (۴) مادهٔ هفتاد وپنجم این قانون، تأدیه نموده باشند، مطابق احکام فقره های (۲ و۳) این ماده مجدداً سنجش و مبالغ اضافی تأدیه شده در مالیات ذمت بعدی آنها مجراء می گردد.

مادهٔ دوم:

این تعدیل از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو د ډول د مقررې د شلمې مادې د تعديل د انفاذ په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت درئيس

حکم

ګڼه:(۷۱)

نېټه: ۱۰/ ۱/ ۱۳۹۵

د عدليې محترم وزارت ته!

لومړۍ ماده:

د۱۳۹۱ کال د چنګاښ د ۲۰ نېټې په (۱۰۸۱) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو د ډول د مقررې د شلمې مادې تعديل چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۸/ ۱۱/ ۱۳۹۴ نېټې په غونډه کې په دوو مادو کې تصويب شوی دی، منظوروم.

دوه يمه ماده:

يادشوی تعديل له دغهٔ حکم اودکابينې

حکم

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ تعديل مادهٔ بيستم مقررهٔ طرز تهيه و طی مراحل اسناد تقنينی

شماره: (۷۱)

تاريخ: ۱۳۹۵/۱/۱۰

به وزارت محترم عدليه!

مادهٔ اول:

تعديل مادهٔ بيستم مقررهٔ طرز تهيه و طی مراحل اسناد تقنينی، منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۱۰۸۱) مؤرخ ۲۰ سرطان ۱۳۹۱ را که در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۴/۱۱/۱۸ کابينهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در دو ماده تصويب گرديده است، منظور می دارم.

مادهٔ دوم:

تعديل مذکور با اين حکم و مصوبهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مصوبې سره په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

محمد اشرف غني

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

کابینه از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ می گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو د ډول د مقررې د شلمې مادې د تعديل په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې مصوبه**

شماره: (۳۹)

تاريخ: ۱۸/ ۱۱/ ۱۳۹۴

د۱۳۹۱ کال د چنګاښ د ۲۰ نېټې په (۱۰۸۱) ګڼه رسمې جريده کې خپرې شوې د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو د ډول د مقررې د شلمې مادې تعديل د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۸/ ۱۱/ ۱۳۹۴ نېټې په غونډه کې په دوو مادو کې تصويب شوه.

محمداشرف غني

دافغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس

**مصوبهٔ کابينه جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تعديل مادهٔ بيستم مقررهٔ طرز تهيه و طی مراحل اسناد تقنينی**

شماره: (۳۹)

تاريخ: ۱۳۹۴/۱۱/۱۸

تعديل مادهٔ بيستم مقررهٔ طرز تهيه و طی مراحل اسناد تقنينی، منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۱۰۸۱) مؤرخ ۲۰ سرطان ۱۳۹۱ در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۴/۱۱/۱۸ کابينهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در دو ماده تصويب گرديد.

محمد اشرف غنی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو دډول د مقررې دشلمې مادې تعديل

**لومړۍ ماده:**

د ۲۰/ ۴/ ۱۳۹۱ نېټې په (۱۰۸۱) ګڼه رسمي جريده کې خپرې شوې د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو د ډول د مقررې شلمه ماده دې، په لاندې متن تعديل شي:

(۱) ادارې کولای شي د اړتيا په صورت کې، د تقنيني سند ابتدايي طرحه د نورو حقيقي يا حکمي اشخاصو د نظر د ترلاسه کولو لپاره د اړوند سايټ يا نورو ممکنه وسايلو له لارې خپره کړي.

(۲) ادارې مکلفې دي د کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ په برخه کې د تقنيني سندونو ابتدايي طرحه له پړاوونو څخه دهغې له تېرولو د مخه د عامه نظر د راټولولو لپاره د اړوندې ادارې د سايټ يا د کثيرالانتشار له ورځپاڼو څخه په يوې کې او يا د نورو ممکنه وسايلو له

## تعديل مادۀ بيستم مقررۀ طرزتهيه وطی مراحل اسناد تقنينی

**مادۀ اول:**

مادۀ بيستم مقررۀ طرز تهيه وطی مراحل اسناد تقنينی منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۰۸۱) مؤرخ ۲۰/ ۴/ ۱۳۹۱ به متن ذيل تعديل گردد:

(۱) ادارات می توانند درصورت ضرورت، طرح ابتدائی سند تقنينی را جهت کسب نظر ساير اشخاص حقيقی يا حکمی از طريق سايت مربوط يا ساير وسايل ممکنه به نشر برسانند.

(۲) ادارات مکلف اند طرح ابتدايی اسناد تقنينی عرصۀ تجارت داخلی و خارجی را قبل ازطی مراحل آن، از طريق سايت ادارۀ مربوط يا يکی از روزنامه های کثيرالانتشار و يا ساير وسايل ممکنه جهت جمع آوری نظر عامه به نشر برساند و مدت مناسب را

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې خپره کړي او مناسبه موده چې له (۳۰) ورځو څخه لږ نه وي، د نظريو د ترلاسه کولو لپاره وټاکي.

(۳) ددې مقررې په پنځلسمه ماده کې درج شوی کمېسيون ترلاسه شوې نظريې تر غور او بررسۍ لاندې نيسي او د طرح په بډاينه کې له هغو څخه ګټه اوچتوي.

(۴) که چېرې د تقنيني سند د ابتدايي طرح خپرېدل(خپرول) ملي امنيت، عامه روغتيا يا د ژوند چاپېريال له خطر سره مخامخ کړي يا د تقنيني سند د تنفيذ خنډ يا د اشخاصو د نفوذ د اعمال او يا د بهرنيو اسعارو د تبادلې د نرخ يا د دولت د مالي پاليسيو په اړه د خاصو اقداماتو د کولو موجب شي، ددې مادې په (۲) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثني دي.

**دوه يمه ماده:**

دغه تعديل په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

که کمتر از ۳۰ روز نباشد، جهت کسب نظريات تعيين نمايند.

(۳) کميسيون مندرج مادهٔ پانزدهم اين مقرره نظريات دريافت شده را مورد غور و بررسی قرار داده و درغنامندی طرح، از آن استفاده می نمايد.

(۴) هرگاه نشر طرح ابتدائی سند تقنينی، امنيت ملی،صحت عامه يامحيط زيست را مواجه به خطر سازد يا مانع تنفيذ سند تقنينی يا موجب اعمال نفوذ اشخاص و يا اتخاذ اقدامات خاص در رابطه به نرخ تبادلهُ اسعار خارجی يا پاليسی های مالی دولت گردد، ازحکم مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده مستثنی می باشد.

**مادهٔ دوم:**

اين تعديل از تاريخ نشردر جريدهٔرسمی نافذ می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایــــات : (۹۰۰) افغــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور: (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

- **Law on added value tax**
- **Amendments to some of Articles of Civil servants law**
- **Amendments to some articles of law on income tax**
- **Amendment to Article (20) of Regulation, Procedure for Preparation and processing legislative documents**

**Date:13th April .2016**
**ISSUE NO :(1209)**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**